
څروی
لنډې کیسې
اجمل پسرلی

بسم الله الرحمن الرحیم


**د کتاب خانګړنې:**

د کتاب نوم: **څروی**

لیکوال: **اجمل پسرلی**

خپرندوی: **سروش کتابپلورنځی**

پښتې: **عبدالواسع هېوادمل**

د خپرونو لړ: **۳۲**

شمېر: **۱۰۰۰ ټوکه**

چاپ وار: **لومړی**

چاپ کال: **۲۰۱۹**

**ISBN 978-9936-647-17-6**



**د دې کتاب د چاپ، پر ویبپاڼو او ټولنیزو رسنیو د خپرولو حقوق له خپرندوی سره خوندي دي**



ادرس:سروش کتابپلورنځی، مینه یار مارکېټ، د دریېمې ناحیې کوڅې ته نږدې،میرویس میدان (کوټه سنګي) کابل - افغانستان.

**Sorosh Bookstore** **۰۷۸۵۲۰۰۲۱۲**

**Sorosh_bookstore**



**جلال آباد:** مومند، ختیځ او مازیګر کتابپلورنځي **کندهار:** کرور او صداقت کتابپلورنځي **پکتیا:** روحاني بابا، ماشاءالله اوعلمي کتابپلورنځي **پکتیکا:** مجاهد او شال کتابپلورنځي **خوست:** ژوندون، رحیمي او رڼا کتابپلورنځي **هلمند:** تاج منورکتابپلورنځی **غزني:** انصاريِ او جدید کتابپلورنځي **زابل:** خیرخواه کتابپلورنځی **مزارشریف:** ثقافت کتابپلورنځی **کابل، احمدشاه بابا مېنه:** بدلون کتابپلورنځی، **لوګر:** مدقق کتابپلورنځی



د نورو نویو پښتو وړیا (PDF) کتابونو لپاره اریان پښتو کتابتون په لاندې ادرسونو کې وګټئ
ARYAN PASHTO LIBRARY تلګرام
00971501455350 واټساپ
فیسبوک اریان پښتو کتابتون

## څو خبرې

د دې کتاب کیسې زما د وروستیو دوو کتابونو « میرتون» او « لپه» په څیر د کلماتو له پلوه لنډې دي. دغه اختصار مې د کیسو په سرلیکونو کې هم مرعات کړی دی. هیڅ عنوان دوې کلمې نه لري. حتی د کیسې په پای کې چې کله د لیکلو ځای ته اشاره کوم نو که کیسه د اروپایانو ده ( پراګ) ورته لیکم. که نه ده د لیکلو له مکانه تیریږم او پر یوازې ( پای) بسنه کوم.

په لږو لفظونو کله ناکله ډیر څه بیانول سخته شي. د همدې لپاره مې د تیر په څیر په یوشمیر کیسو کې سیمبول ته مخه کړې ده.

بل لور ته باید دا خبره په زغرده وکړم چې د سیمبولیکو کیسو لیکل یو نیم وخت راته سخته شي. څرنګه په کیسه کې سیمبولونه سم ځای پرځای کړم؟ دا اندیښنه هم راسره وي چې څه باید سیمبولیک راشي؟ ډیره ګرانه بیا دا شي چې له وضاحت ورکولو پرته څرنګه سیمبولونه راواخلم؟

Scanned with ACE Scanner

د دې کتاب په ګڼو کیسو کې ما پر ورو سیمبولونو اتکا کړې ده. مثلا رنګونه مې سیمبولیک غوره کړې دي، که مې په یوه خونه کې یوه راخوړنده منظره یاده کړې ده نو سیمبولیک اړخ ته مې پام کړی دی. د کوټې کړکۍ مې هسې نه ده یاده کړې.... ښايي ډېر لږ داسې صفتونه په دې کیسو کې وي چې یوازې یې موصوف له مروجې معنا سره سم توصیف کړی وي. دلته اکثر صفتونه د معنا نورو بارونو ته اوړه ورکړې ده. که رنګونو ته ګورئ، که شمیرې شمیرئ، که صفتونو ته تم کیږئ، نو د شته معنا ترڅنګ ممکن په کیسه کې بله معنا هم ورزیاته کړي. یوه نیمه کیسه بیا ټوله سره سیمبولیکه راغلې ده.

ځینې سیمبولونه په خپله ځای پرځای شوې دي. داسې چې کیسه مې لیکلې بیا مې بل وخت کتلې ورته پام شوې مې دي چې دغه برخه خو سیمبولیکه شوې ده. یو نیم ځل مې ځنې کلمات د کیسې تر لیکلو وروسته په عمدي ډول د سیمبول لپاره بدل کړې دي.

د انګلیسي ژبې کره کتونکي وايي، که سیمبول درسره وي او ته یې پر میز پریږدې نه یې کاروې نو لیونی یې. زه په کیسو کې له دې لیونتوبه ځان خلاصوم، خو سیمبولونو ته زړه خورم چې لوستونکی به مې پوه کړی وي که نه وي؟!

دا هم تاسو دا هم (څروی) که مو سیمبولونه پکې موندل باور کوم چې دا کیسې به خوند درکړي او که مو ورک کړل، نیمه ګناه یې زما.

له سروش کتابپلورنځي د زړه له تله مننه کوم چې دا کتاب چاپوي.

درنښت

**اجمل پسرلی**

Scanned with ACE Scanner

# ځنځه

ښځې پر خپلو زنګنونو لاسونه کېښودل. د لمسي د ګور سر ته کېښناسته. همهغه صحنه يې سترګو ته ودرېده چې موټر د دې لمسی له پاخه دیوال سره وواهه او خاې پرخاې شو.

سترګې يې کلکې پټې ونيولې. د ګور پر خاورو يې رغوی تېر کړ، چې وبې وکتل، يو دم يې لاس راکش کړ. ځنځه په منډه منډه د شناختې خوانه روانه شوه او د کاڼي په بېخ کې يې خان غلی ونيو.

Scanned with ACE Scanner

ښخې ډبره راواخیسته. پر ډبره یې خنخه له شناختې سره ټینګه کړه. پر شناختې چخنیا شوې خزنده یې پر کاڼې کش کړه. تندی یې تریو شو. سر یې وریږداوه.

همهغه شیبه یې بیا سترګو ته ودریده چې د دې لمسي د موټر او دیوال ترمنځ ساه ورکړه.

اوچته پاڅیده. تیزه شوه، ملایې کړوپه شوه، ته وا شمال ته ونه کږه شوې. ترخټ یې وکتل لکه په چا پسې چې ګوري. بیا چټکه شوه. د زړه دربا یې زیاته شوه. وړاندې یې د میږیو له کتاره پښه واړوله، پر زړه یې لاس ونیو او ورو ورو له هدیرې ووته.

پای

# زنګ

دیوال یې پر ګوته ورو ورو وټکاوه. د دیوال پلستر ودوړېده. په بنې لاس کې د نیولي سګرېټ ایرې یې وڅنډلې:

-کور یې ډېر خراب کړی

مېرمنې یې قیدک پرانیست. ویښته یې پکې راټول کړل:

-که یې مینځ هم همداسې وي بیا نه ارزي چې پیسې برې ورکړو

سړي د سګرېټ لوګی د وره د زنګ لور ته پوف کړ:

-دا شیان ژر جوړېږي

د دروازې له شا د یوې ښځې پوړېدلی غږ شو:

-دا دی... درغلم

بوډۍ چې ور پرانیست له سلام سره یې دوی ته شا کړه:

- راځئ دا زوړ کور تاسې هم وګورئ

پردې کش وې. د ناستې په خونه کې یوځای جرابې پرتې وې، بل ځای کمپله وه. سپین رنګه دیوالونه داسې ایسېدل لکه لوګي چې وهلي وي. په پخلنځي کې د سړي میرمنې پوزې ته لاس ونیو.

بودی پوښتنه ترې وکړه:

-کور مو خوښ شو؟

سړي چټ نه وکتل:

- شوی خو...

میرمنې یې خبره ورغوڅه کړه:

-په دې بیه نه ارزي

بودی وخندل:

- زما هم زړه نه پرې کیږي مېړه مې تاسو یادولی که تاسو هم وانخیست بیا به یې نه خرڅوو.

د زنګ وهلې دروازې کڅ شو، دروازه پورې شوه. سړي سګریت راوایست. میرمنې یې ورته وویل:

- سګرېټ دې ډېر کړي نه دي؟

سړي د کور په غولي کې شاوخوا سترګې وغړولې:

- دا کور مو باید له لاسه ونه وځي ډېر ارزانه دی

د کړکۍ پرده کش شوه، د سندرې غږ راغی. سندره لوړه شوه.

پای

## معتاد

پر زنګنونو یې لاسونه کلک نیولي وو خو بیا یې هم پښې ریږدیدې. په کوټه کې د شرابو تیز بوی و. شیبه مخکې یې پلار د ودکا تش بوتل له دیوال سره وویشت، ور یې پسې پور کړ او دې ته یې خبرداری ورکړ که یې بیا شراب نه و ورته راوړي ورسره پوه به شي.

نجلۍ لاسونه پر مخکه تکیه کړل چې پاځي، اخ یې کړل. ګونه یې د بوتل په ماتې شوې ټوټې وینه شوه. وینښته یې په لاس له مخه لرې کړل. د دروازې غږ شو. پلار یې له یو بوتل ودکا سره راننوت.

نجلۍ سر پر زنګنونو کېښود. ده یې سر راپورته کړ:

«ته وګوره نن مې دغه شی غوښت»

نجلۍ په لاسونو مخ پټ کړ. سرې یې لاسونه ورکش کړل:

Scanned with ACE Scanner

- دا دې څه کړي؟

- ستا د شرابو له لاسه

بلار د لور پر مخ دستمال تېر کړ د هغې په وينو لړلی مخ پاک شو. د سړي سرې سترګې رډې رډې راوختې:

«دا خو وينې نه و»

نجلی ګوته پورته کړه:

«مخ به مې ولې وينې وي، دا ګوته مې د بوتل پر ټوټه وينې شوه»

سړي سره ساه وايسته. د بوتل سر يې خلاص کړ. نجلی له کوټې ووته. ګرز شو دروازه يې ورپسې پورې کړه. پلار يې له کړکی سر پسې وايست:

- ماښام چې له کاره راځې ير دې هېر نه شي.

پراګ

Scanned with ACE Scanner

# سند

سړی د سمندر غاړې ته تیز تیز روان و. لاسونه یې داسې غورځول لکه په پوخې مارش کې چې رهي وي. وړاندې له شګو سره تم شو. هلته ګڼ خلک پنډ وو.

«دا ښځه یوازې ښکارې، هاغه بوډا یوازې راغلی؟...»

خندا شوه، شاته یې مخ واړاوه. د تورو ویښتو، تورو سترګو سړی لکه افغان ښکاریده چې د یوې شین سترګې نجلی زیږ ویښته یې باد ته ربول. دواړو د لامبو جامې په تن وې:

«که یې زه مهاجر منلی وای اوس به زه هم بیغمه وم»

د سیګل مرغانو کغا شوه:

«بختورو»

مرغان د اوبو ژی ته راټیټ شول او بیرته داسې په هوا شول لکه باد چې سینې پخې په مخه کړي. د هاغه افغان بیا له خپلې ملګرې سره خندا شوه او

کوز سر یې لاس په لاس سره منډه کړه. دی پر یوه کاڼي کښیناست. خلک په شګو کې لکه د تیرې شوې جګړې مړي کتار پراته وو.

سړی پر شګو اوږد وغځید. د اوبو د څپو ځړپا وه. یو نیم مرغه به هم شیبه نیمه وروسته وکغیده، نوره کراره کراري وه.

د امبولانس د هارنونو غږ په خود کړ. وروسته د پولیسو د موټر هارن شو. دی لږ وویریده چې هسې نه د سندونو پوښتنه ترې وکړي، خو موټر یو سل ګامه مخته تیر شو. په شګو کې پراته خلک سره راکښیناستل. له یوه یې حال واخیست، هغه ویل چې یو سړی او یوه نجلی اوبو وړي دي.

نیت یې وکړ چې د پیښې ځای ته ورشي چې هاغه مهاجر اوبو نه وي وړی، خو د پولیسو د موټر څراغونه لګیدل، زړه یې ونه کړ. د پیښې د ځای مخالف لوری روان شو. څپې څړپیدې، سیګل مرغان کغیدل، د خلکو غږ ورکیده.

پای

Scanned with ACE Scanner

# هڅه

چیغه شوه، د والتاو د سینډ غاړې ته ولاړې نجلۍ دواړه لاسونه پر سر ونیول.

ورته ودریدم چې څه ورته ووایم، دې سینډ ته لاس ونیو:

- هاغلته د سروزرو زنځیر رانه ولوید

ما لاندې خړو اوبو ته وکتل، بیا مې دې ته، اوښکې یې پرمخ بهیدې، ورته ومې ویل:

-له دې لوی سینده د کوچیني خنځیر راایستل ناممکنه دي

نجلۍ مخې ته لاس ونیو، سلګۍ یې شوې:

-د انډیوال نښه مې وه

Scanned with ACE Scanner

زه روان شوم. درب شو. نجلی له نژدې لس متره پورته خان سیند ته واچاوه. موبایل مې راواخیست چې پولیسو ته زنګ ووهم چې ویې ژغوري خو دې له اوبو سر راوایست، بیا یې غوټه ووهله او بیا یې سر پورته کړ.

د سیند په هغه لورې یې لامبو وکړه چې زه هم تلم. تر څو چې زه د سیند بلې غاړې ته اوښتم دا راووته. جامې یې لمدې خیشتې وې، له کوڅیو یې اوبه څڅیدې. لیونی غوندې راته ښکاره شوه. پرې تیر شوم، دا کټ کټ په خندا شوه. مخ مې ورواړاوه:

- د زنځیر لپاره دې بوټونه هم پسې ورک کړل

لمن یې له اوبو ونښتیخله:

- ما خپله خواري وکړه خیر که پیدا نه شو.

پراګ

# ورک

د پردې ژی یې پورته کړه. د کوڅې څراغونه لا نه و لګیدلي. لړه راپورته شوې وه. کړکۍ ته یې شاوا ړوله. د میز پر سر ککړ بیشقاب یې د میز منځ ته ټیله کړ. ځټ یې په لاس ټینګ کړ. ګوتې یې سستې شوې. د تخت پر سر یې کمپله خوره کړه.

بیا یې پرده پورته کړه، خو ژر یې بیرته پریښوده. چټ ته یې وکتل. سترګې یې پټې ونیولې. یو دم راپاڅیده د دراوزې له شا یې د راخوړند کوټ په لستونو کې لاس ننویست او پرته له دې چې لفت ته ودریږي په منډه منډه په اوو زینو ښکته شو.

په کوڅه کې څوک نه ښکاریدل. د کوڅې بر سر د یوه سپي غپا شوه. له دروازې یې سر پسې وایست، څه ښکاره نه شول. بیرته پر زینو راوخوت. ستما یې شوه، لنډه لنډه ساه یې اخیسته، پر تخت څملاست.

په خپل خرهاري راویښ شو. راولټیده، پرده یې کش کړه. دباندې تیاره وه د کوڅې څراغونه په لړه کې داسې ښکاریدل لکه په هوا کې چې دلته هلته وړې شمې لګیدلې وي.

کړکۍ یې پرانیسته، له ساړه شمال سره سپینه پرده د کوټې دننه راپورته شوه. دباندې د سړک پر سر د موټر غږ شو، غږ لرې شو او پسې ورک شو.

پای

Scanned with ACE Scanner

# فولادي

له څلوېښتې چې کور ته راغی. سر ته یې لاس ونیو. د قاریانو غږ یې په غوږونو کې انګازه کوله. سپین چت ته یې سترګې ونیولې...

یو دم راپاڅېده. د کار کوټې ور یې پرانیست. غاښونه یې وبریښېدل، ته وا پر سمنټ اورسپنه تیرېږي. ورټیټ شو. د رسامي برش تر وره لاندې شوی و.

ترڅلوېښتې مخکې چې یې کوم رنګونه د یوه نیمګړي انځور لپاره سره ګډ کړي و، هغوی پټرې نیولې وې، وچ شوي وو.

ژر ژر یې تازه رنګونه سره ګډ کړل. د نیمګړي انځور د لمر پر وړانګو یې پیکه تور رنګ تیر کړ. شنې اوبه یې خړې کړې. پر زنګون یې لاس

کېښنود راوڅلېده. له لرې یې رسم ته وکتل. بیا ورته په ګوتدو شو د کوڅې هوا یې فولادي رنګه کړه. د سپي خوله یې ورپټه کړه بیا یې د هغه پر سر فولادي برش ومواښه. د سپي تن یې هم فولادي کړ. د هغه پښې یې هم فولادي کړې. پوازې یې لکۍ توره ایسېده. د سپي مخې ته یې رسم کړې پیشو هم پیکه کړه لکه په غبار کې چې پټه وي.

دیوال ته یې ډډه ووهله. خو سترګې یې ردې ردې د انځور خوا ته ختلې وې. په رنګ ککړ لاسونه یې پرانیستل. انځور ته یې سر کوږ کړ. برش یې پورته کړ له مخکې یې وواهه. د کار د کوټې دروازه یې کلکه پورې وهله. د دروازې د جګ غږ له غلې کېدو سره یې بیا په غوږونو کې د قاریانو غږ لکه د مچیو بڼا انګازه وکړه.

پای

# څراغ

( رابرت ) وروسته تر دې بستر شو چې له خپلې میرمنې بیل شو. ده ته تازه ډاکتر ویلي دي چې نور په روغتون کې مه پاتیږه. عمر دې زوال دی، په کور یې تیر کړه. رابرت زما د اپارتمان مخامخ بلاک کې ژوند کوي. اوني وشوه چې د شپې ویدیږم یوځل له کړکۍ سر ورښکاره کړم، ګورم چې د کوټې څراغ یې بل دی.

له یوې تیرې وې، خوب نه راته، پرده مې پورته کړه د رابرت د کوټې څراغ لا لګیده. په زړه راوګرځیدل چې سړی په عذاب نه وي، حال یې واخله.

د دیارلسم اپارتمان ور مې ورو ورو وټکاوه. غږ نه و. ورغږ مې کړل. بیا هم غلی و. ور مې کلک کلک وواهه. بیایې هم راخلاص نه کړ. ورنارې مې کړې. ګاونډی یې خوبولی راووت. سترګې یې موښلې:

-څه خبره ده؟

-رابرت ته مې سودا شوه، وبښئ تاسو مې له خوبه وایستئ

-نن یې پنځمه ده چې مړ شوی

-نو څراغ یې لګیږي

سړي پر خپلو بېرو وېښتو لاس تیر کړ:

-وصیت یې کړی و چې د خوب څراغ مې میرمنې راته اخیستی تر څو چې دا څراغ په خپله مري تر هغوی پورې یې مه مړ کوئ.

# کډوال

چې څومره په ډاګ کې ایکي یوې ولاړې کوټې ته ورنژدې کیده هغومره یې ګامونه تیزیده.

لس ګامه به له کوټې لرې وو چې بیک یې ورو له اوږې وشوید. پښې یې تیلبه شوې، لکه غږې چې یې تښتیدلي وي.

د کوټې د برنډې لور ته یې نیولي ګامونه واخیستل. د برنډې پر غولي تر سرو خښتو لاندې بوټي راشنه شوي وو. د برنډې په کونجونو کې جولا خالې جوړې کړې وې. د کوټې دروازه ماته وه. د کوټې له دننه نمجن بوی راته.

د کوټې منځې ته د اورګاډي د غځیدلې پټلې په منځ کې ودرید. دی له سهاره د ریل پر همدې کربښې رارهي شوی و. چا ورته ویلي و چې د لمر لویدو خواته اورګاډی سرې جرمني ته رسوي.

کوټې ته ورننوت. د خوسا شوې غوښې بوی ته، پوزې ته یې لاس ونیو. د کوټې په منځ کې د پیپسي یو خالي بوتل، د سګریټو یو چیت ډبی او یوه خیرنه جرابه چې شنه بخونه ښکاریده، پراته وو. د کوټې د کړکۍ په پنجره کې د مرغۍ ږنګه خاله معلومیده. له کوټې راووت. پر زنګنې پټلی کښیناست. پټلی ته یې غبرګې سترګې ونیولې. لرې کربښې سره ورغلې ښکاریدې.

# منی

ادم غبرګ لاسونه ملا ته نیولي وو، پر مځکه پرتو پاڼو ته خیر و. سیوری یې ترسترګو شو. د عینکو شاته یې سترګې ورپولې. جولیا یې مخې ته ولاړه وه، خندل یې.

سمې لاسونه پرانیستل. جولیا سر وخوځاوه. ده یې مټ کلک کړ:

- چرته روانه یې؟

- په دې مني کې د چا زړه په تنګ شي

- شیږم دې په یاد دی چې تختې ته پورته کیدې ما پښه درته کیښوده.

له خندا سره د جولیا سترګې ګونځې ګونځې شوې:

- ته بنه یې ډیرې پخوانی کیسې دې داسې په یاد دي، زما هیرې وي چې ته یې وکړې بیا راپه زړه شي

ادم د سړک غاړې ته پر اوږدې چوکۍ کښیناست. جولیا د چوکۍ له بل سره د ونې پانه لرې کړه، د ادم څنګ ته ودریده. ادم ورته وویل:

- د میرمنې مې اوس هم نه خوښیږي

جولیا شونډې بوڅې کړې:

- زما هم بده ایسي

ادم د جولایا پښه وخوځوله:

- کیښنه

دې د هغه لاس پورې واهه. ادم یې وروړن ورټینګ کړ. جولیا لږ شاته شوه:

- څه کوې؟

ادم ونو ته وکتل. دې بیا وپوښت:

- ولې غلی شوې؟

- منی شو

د جولیا لمن شمال ته ورپیده، دې لمن سره راټوله کړه، ادم له لاسه کش کړه. ښځه نژدې پرتلې وه خو خان یې تکیه کړ. ادم وخندل. دې تندی تریو کړ، اوچت ګام یې واخیست، کړه وړه شوه. ادم چشمې پر سترګو سمې کړې، پسې ویې کتل، باد ته د سړک د دواړو غاړو له ونو پاڼې ورژیدې. لکه په لړه کې چې څوک تری تم شي، همداسې په سیخه کوڅه کې جولیا د ادم له سترګو پناه شوه.

پراګ

## والعصر

لکه مچ چې لاسونه سره سرولیې دواړه رغوي یې پر یو پر بل موښل. شمې یې راواخیستې. یوې ته یې لایټر ونیو. بله شمه یې بله کړه د دوهمې شمې سر یې دریمې یوې ته ورنژدې کړ چې هغه روښانه شوه. بله او بله شمه یې بله کړه.

بیا ګوته یې لړ وسوه، ویې ژبښله. کړکۍ یې پرانیسته، ترورمی وه. د شنې پردې شانه ودرید. ګوته یې باد ته ونیوله. موبایل یې ولګاوه. په فیسبوک کې یو کس د کلیزې مبارکي ورکړې وه. د دې سړي پاڼې ته ورغی. نا اشنا و.

یوه ټوټه کیک یې خولې ته کړ. د خولې خوند یې بد شو. ویې ژووه. بیا یې وژووه. د کیک ډبې یې راپورته کړ. همهغه کیک و چې تیرکال یې اخیستی و. ډبې یې لاهمهغسې و. د غنمو وړی پرې انخور و. د کیک له بل کونجه یې یوه ټوټه وربیله کړه. ولټیده. د کتابونو له الماری سره پر دیوال راځوړند تصویر ته ودرید. اوښ پر یوه هواره مځکه ځریده. د کیک ټوټه یې تو کړه.

شمو ته یې وربو کړل. لاړې یې باد شوې. ساه یې راغونده کړه بیا یې وربو کړل. یو، دوه، درې شمې مړې شوې. د شمو له تارونو لیکه لوګې پاخیدل.

د میز د سر دوې نورې شمې یې هم مړې کړې. له وره سره چې غبرګې شمې لګیدې د هغوی له ګول کولو سره په کوټه کې تپه تیاره شوه. د مومو بوی خپور شو.

په تیاره کې یې سترګې رڼې نیولې وې خو څه یې نه لیدل.

پای

Scanned with ACE Scanner

# خبریال

په باغ کې د هغو پاڼو له غږه پرته چې د خبریال او کلیوال تر پښو لاندې کېدې او غږدې یې کاوه، د بل څه غږ ږوغ نه و. کلیوال تر خبریال مخته چټک ګامونه اخیستل. خبریال ته یې مخ راواړاوه:

-له جنګه وروسته داسې کرارې ده بیخي پخوانی وخت دی

خبریال په شاکړې بیک پر اوږو سم کړ. له باغه یې د وران شوي کور په غولې کې پښه کېښوده. هلته یې د ونې د یوې لویې ماتې شوې څانګې عکس واخیست. د دې څانګې سر له مځکې سره لګېده خو پاڼې یې لاشنې وې. بیا یوې کوټې ته ورننوت. سوري چت ته یې کمره ونیوله. د کوټې په کړکې یې د دیوال پر سر ناستې خرې پیشو ته لېنز سم کړ. پیشو میو میو وکړ. له ماتې کلیوال پر دواړو غوږو ګوتې کېښودې:

- خلک رښتيا درواغ سره ګډوي ما په خپله له راډيو واوريدل چې په دې کور کې ديارلس کسان شهيدان شوي، ديارلس نه و پوره نهه وو

د سپي غپا شوه. کليوال د خبريال مټ ونيو:

- ځيني سپيان ليونيان شوي

خبريال ترهيدلي تور سپي ته وکتل چې پر نړيدلي ديوال راواوښت، په پېشو پسې يې د باغ لور ته منډې کړې.

کليوال د خبريال مخې ته ودريد، بيا لږ شاته شو، له روغ ديوال سره نيغ شو:

-عکس مې واخله

د سپين رنګه ديوال مخې ته د ده بې وخته لويدلي غاښونه، ګونځې ګونځې تندی، لويدلې سترګې او سپيره مخ د کمرې فلش ته وځليدل.

پای

# زنګ

د رستورانت مخې ته دوه څله تيرېير شو. ور يې تړلی و. له ځنګلوري دوکانداره يې پوښتنه وکړه، هغه ورته وويل چې دا دوې مياشتې وشوې چې بند دی او څښتن يې غواړي چې ويې رغوي.

د رستورانت پر هنداري يې لاسونه کيښودل، دننه يې هاغه کونج ته وکتل چې درې مياشتې مخکې يې هلته ملګرې مونډلې وه. له نشې وروسته د هغې خمارې خړې سترګې يې ترسترګو شوې. ساه يې راټوله کړه او يوڅای يې د رستورانت پر شيښې ورپو کړه. پر هنداري د ساه ګرد تاو کښيناست.

د دوکان خواته یې ګام واخیست. زړه یې و چې پوښتنه وکړي چې دا رستورانت به کله جوړوي خو هلته خلک سودا ته کتار ولاړ وو. بیرته راوګرځېد. د رستورانت له بل اړخه یې هغې اوږدې چوکۍ ته ورپام شول چې په وروستي ځل یې هلته ملګرې ته ویلي و چې له یو چا سره یې لیدلې ده. نجلۍ ورته ویلي و چې په ښوونځي کې مې ملګرې و خو ده په بداخلاقي تورنه کړې وه. ملګرې یې چې همهغه وخت ولاړه. د موبایل شمېره یې بدله کړه او له ده سره یې بیا ونه لیدل. د ده زړه ته لویدلې و چې بل ملګری یې موندلی څکه نه ورسره ګوري خو نن ماښام چې هر لور ته لړه راپورته شوه. تیر وخت ورپه زړه شو. د خپلې پخوانۍ ملګرې د لیدو په نیت یې زاړه رستورانت ته مخه کړه.

د رستورانت زنګنې دروازې ته لویدلی کولپ یې راکش کړ. ویې خوځاوه. ویې شرنګاوه او بیا په شیوه کوڅه کې لاندې روان شو.

پراګ

# تیاره

شناخته یې ترتخرګ لاندې نیولې وه. منډې یې وهلې. کور نه و، هدیره وه. په قبرونو کې خلک بربنډ پراته و. داسې بربنډ و لکه له روغتونه یې چې د خپلې میرمن مړی له یخچاله تسلیماوه، پر ټولو مړیو پلاستیک تاو و. خان ته یې وکتل، کمیس یې په تن و خو لوڅ ښکاریده. منډې یې کړې، تیز شو شناخته ترې ولویده، شناخته په هوا شوه. چیغه یې کړه، راویښ شو.

په کوټه کې یوازې و، خولې یې کړې وې. څراغ یې ولګاوه. د میرمنې د ګور د شناختې لپاره یې پر کاغذ جوړې شوې لیکنې ته د میز پر سر وکتل. طرحه لویه ورته ښکاره شوه.

دا جمله یې رنګه کړه، زما له زړه نه یې تللې. بیا یې دا جمله پاکه کړه، جنت دې ځای شه. پاڼه یې څنګ ته کېښوده، سر یې پر بالښت ولګاوه. په یوه بل اړخ واوښت. کښناست پاڼه یې ورواخیسته. چټله ورته معلومه شوه. په بل مخ یې واړوله.

چت ته یې سترګې ونیولې چې د خوب څراغ ته تک سپین ښکاریده. پاڼې ته خیر شو، سره غونجه یې کړه، د دروازې لورته یې وارتوله. لاحول یې کړل، ورټوپ یې کړل، کاغذ یې ښکل کړ، کلیمه یې پرې لیکلې وه. پر کاغذ یې لاس تیر کړ ورو یې د میز پر سر کېښود. دباندې یې وکتل لا هم تیاره وه.

پای

Scanned with ACE Scanner

# ورک

د رستورانت د دروازې د یوې پلې د پورې کیدو له غږ سره سرې سر له میزه راپورته کړ، سرې سترګې یې شاوخوا وځغاستې. ټول خلک له رستورانته وتلي و. د شرابو تش ګیلاس یې سترګو ته نژدې ونیو، غږي یې هسکه کړه، دوه درې پاتې څاڅکي یې په خوله کې وڅڅول. څنګ ته یې کوټبند ته لاس وروغځاوه چې جمپر راواخلي، که یې پر دیوال اوږه نه وای تکیه شوې لویدلی به و. د جمپر په یوه لستوڼي کې یې لاس ننویست، بل لستوڼی یې بهر واغوست.

دباندې غټه غټه واوره وریده. مخکې تکې سپینې وې. په واورو کې یې سم پل نه شوای اخیستلی. له رستورانت سره څنګ ته په ګرځیدلي سړک د پارک په لور ورتاو شو.

د پارک په بر سر کې د هسکې ودانۍ په شپږم پوړ کې د یوه اپارتمان څراغ بل و. ورته کتل یې لکه څوک چې په کړکۍ کې ولاړه وي. ده لاس وخوځاوه بیا د سړک د غاړې څنګ ته د څراغ رڼا ته ودرید، غبرګ لاسونه یې پورته کړل. څراغ مړ شو.

پارک ته ورننوت. د پارک بر سر د ډبرینې مجسمې لور ته ورغی. د مجسمې پر مخ دانه دانه واوره کښیناسته او ویلې کیده. ده سر وخاندو، شا یې وروا‌ړوله. په واوره کې یوازې د ده خو پلونه ښکاریدل بیا په تیاره کې نور راغلي پلونه ورک شوي وو.

پراګ

# راتګ

یوازې وه. سترګې یې پټې کړې چې ویده شي، بیرته یې رنې کړې. خوب نه ورته. ملګري یې په فیسبوک کې ورته لیکلي و چې نور نه سره ګورو. دې پخوا یوځل خوا ورسره بده کړې وه بیا هغه بیرته ورته راغي او پخلا شو.

سر یې له بالښته راجګ کړ، غوږ یې ونیو. داسې غږ یې تر غوږو شو لکه څوک چې کړکۍ ټکوي. ورولړزېده. د کور د وره خواته یې یو تیت سیوری ترسترګو شو. ورو یې ور پرانیست. یوه خوا بله خوا یې وکتل. شاوخوا لړه راښکته شوې وه.

Scanned with ACE Scanner

بېرته راوګرځېده. ورېام يې شول، له دېواله د کوټې تر کړکۍ په واورو کې د پلونو نخښې وې. ورکړوپه شوه. پلونه واړه وو. خو سم نه ښکارېدل، واورې پټ کړي وو.

څرېي شو، يوه مرغه وزر ټپ وهل، تور ښکارېده، په غبار کې پټ شو. لکه چې کونګ و، په دې نيمه شپه کې نور مرغان څه کوي؟!

په شا شا رهې شوه، ور يې پسې پورې کړ. د خوب څراغ يې ولګاوه، په بخارۍ کې يې لرګي کېښودل. فيسبوک يې پرانيست، نېټ يې وکړ چې ملګري ته پيغام وليکي، هغه بلاک کړی و.

د څراغ مخې ته په جګو پښو کېښناسته، د ببرو وېښتانو سيورې يې شانه پر دېوال داسې ښکارېده لکه د خوخو کوټه.

کمپله يې پر سر راکش کړه. زړه يې درېيده خو له خوبه يې موبايل له لاسه ولوېد.

پراګ

# درد

د کور په چمن کې یې زما پل پټیده. له دیوال سره پخواني کتار گلاب
لکه ازغي ښکاریدل، ټول وچ شوي وو. دروازه نیم کشه وه ومې ټکوله، د
کور له دننه په زگیروي غږ شو:
«راځه»

عبدالرحمان په جرمني کې وطني کوټه جوړه کړې. گردچاپیره یې
توشک دي. خپله یې په یوه کونج کې بسترې ته ډډه وهلې. ناروغي زهیر
کړی. د کوټې هوا دپه وه، خو د ده ویښته داسې ببر و لکه باد چې ربولي
وي.

پوښتنه مې پرې وکړه. راته ویل یې چې د ځیگر له درده دومره نه دی په
عذاب لکه له یوازیتوبه چې کړیږي. ما ډاډ ورکړ چې شکر غبرگ زامن دې
شته.

Scanned with ACE Scanner

سترګې يې ورپولې. ورته انتظار شوم چې څه ووايي. بيا مې پوښتنه ترې وکړه:

-ښه يې؟

ورو يې هو کړل. ورته ومې ويل:

-دا پردې به بيرته کړم تياره ده

د دوا کڅوړه يې ورکش کړه ما اوبه ورته ونيولې. ده سر وخوځاوه له ترموزه يې چاى ورواخيست.

د کړکۍ خواته يې وکتل لکه څوک چې بهر ته غوږ نيسي. ورته ومې ويل:

-څه خو دې پکار نه دي؟

سترګې يې بيرته ونيولې. پوښتنه مې وکړه:

-کوم ځاى دې ډير درد کوي؟

پر خپلې ښۍ خوا يې لاس تير کړ، بيا يې سترګې سره ورغلې. ورو راپاڅيدم دروازې ته لا نه وم رسيدلى چې راغږ يې کړل:

-څه شوې؟

-ما فکر وکړ چې ويده شوې

-زامن مې پنځه ورځې شپږ ورځې وروسته راځي په دوو پښو دلته رانه ودريږي بيا بيرته ولاړ شي.

-دلته ژوند همداسې دى که کار ونه کړې څه به خورې

ده سر پر بسترې کينبود. دباندې د پيشو ميو ميو شو. سر يې راجګ کړ:

-د ګاونډې زيړه پيشو ده پخوا چې روغ وم راتله به اوس دا هم نه راځي دا دروازه مې د دې لپاره خلاصه پرې ايښې وي.

پاى

# کبلۍ

ښکاري په ځنګله کې د ونو لښتې داسې راکشولې لکه لامبوزن چې د اوبو څپې پورې وهي. د نریو لښتو غړ و چې پرېښودې یې، پر یوې بلې لګېدې او د ده ستما وه. سړی داده و چې کبلۍ یې ویشتې ده.

مخته یې ځځلې ګڼې شوې، لاره نه وه. چپ لور ته تاو شو. وړاندې د ګړنګ پر ژۍ ودرېد. په ګړنګ کې د رابوټېدلو بوټو ترمنځ مخکه نه ښکارېده. څو کاڼي یې ورواچول، که کبلۍ هلته پټه وي چې راووځي.

Scanned with ACE Scanner

زړه یې منلې وه چې تېې کبلی د همدې خوړ خوا ته تللې. پر یوې خانګې یې څان خوړند کړ. لاندې یې وکتل خوړ ته ښکته کیدل سخته و. ملګری یې هم پسې راورسید، ده ته یې لاس ورکړ، راپورته یې کړ.

د ټوپک لټ یې کش کړ، څلور پرله پسې هوايي ډزه یې وکړل. له ونو کارغان والوتل.

ملګري ورته وویل:

- ما درته ویل چې کبلی نه ده لګیدلې کومه ده اوس به له ډاره هم راوتلې وه؟

- په خدای ولګیده

- نو والوته

د ښکاري هغه شیبه سترګو ته ودریده چې پر کبلی یې ډز وکړ او هغه ونګوښیده. ترژبې لاندې یې وویل:

«پښه یې هسې نه وي اوښتې»

ملګري یې د ده پر اوږه لاس کیښود. ده خپله پښه د ټوپک پر کونداغ ووهله. چیغه یې کړه، که کبلی راووځي، خو د ژور ګړنګ له شاوخوا یې یوازې خپل غبړ راغبرګ شو.

پای

Scanned with ACE Scanner

# رنګ

پیتاوي ته په چوکۍ کې کړوپ ناست و. د ګلانو خواته یې سترګې واړولې. په ټیټ غږ یې راته وویل:

- رنګونه یې... الوتي

پر سرو او زیړو ګلانو مچۍ وبنیده. ده سترګې پټې کړې:

- رڼا ده

- چې ډېر وخت خوک په کوټه کې وي دباندې یې خامخا داسې تک شنه اسمان ته سترګې بریښي

زګیروی یې شو. پښې یې ورو راټولې کړې. پښې یې پړسېدلې راته ښکاره شوې. ډاکټر ویلي و چې پاړسوب ښه نښه نه ده.

Scanned with ACE Scanner

سیوری یې پښو ته ورننژدې شوی و. ورته ومې ویل:

- لړ ساړه شوو دننه ولاړ نه شو

د تګ اشاره یې وکړه، تر متو مې ونیو. په کوټه کې مې څملاوه. اوبه یې وغوښتې. اوبه مې ورته راوړې. سترګې یې سره ورغلې. اوبه مې ورته کېښودې.

د مچ بڼا شوه. کړکۍ مې پرانیسته چې مچ ووځي. ده ته مې وکتل، اوبه لا ورته پرتې وې، خوله یې خلاصه پاتې وه. لکه چا چې اوږد مزل کړی وي، خپله لکه کورکمن تک زیړ ښکاریده.

لاسونه مې ور وموښل. ساړه شوي وو. ورپاڅیدم چې کړکۍ بنده کړم. د مچ بڼا ورکه وه. شمال ته پر ورسي راځوړنده سپینه پرده ورو ورو ربیده.

پای

# درز

پر چپ غوږ یې لاس کېښود، بل لاس یې پر دیوال راځوړند ساعت ته ونیو:

- انا و انا دې خو غوږونه راوخوړل

د انا یې مصنوعي غاښونه په خوله کې راپورته شول:

- ښه دی وخت راښیي

خوان پر نوې رابوتیدلې ږیرې کلک کلک رغوی وموښه، موبایل یې بوډی ته ونیو:

- دغه څه شی دی؟ وخت وخت

- دا ساعت دې د نیکه د لاس نخښه ده

- ټکه ټکه ټکه له سهاره تر ماښامه

- زما لاس نه وررسیږي ورپورته شه راکوز یې کړه

گر شو، زلمي میز راکش کړ، پرې وخوت. بوډۍ پرې غږ کړ:

- پام پام چې مات نه شي

شروی/ ۴۲

هلک ساعت د دیوال له میخه راښکته کړ. بوډۍ پر کاغذي دستمال د ساعت ښیښه وموښله. هلک ته یې ساعت ونیو:

-دا سویچ مې مړ کړ نور ټک ټک نه کوي راخوړند یې کړه

خوان ساعت پورې واهه، ساعت د بوډۍ له لاسه ولوید، د ساعت د زنځیرونو ګړنج ګړونج شو. خوان له کوټې ووت. بوډۍ د ساعت پر درز شوې شیشې ورو ورو له سره تر پایه ګوته تیره کړه. دیوال ته یې سترګې پورته ونیولې. په هغه ځای کې چې ساعت راخوړند و د دیوال رنګ پاک ښکاریده.

پای

Scanned with ACE Scanner

# گیتار

انتوني د گیتار یو تار کش کړ. د تار ترنګ ترونګ د کوټې چوپتیا ماته کړه. پرته له دې چې مانه وګوري د ګیتار تارونو میخونه یې کلک کړل:

- که مې د وینې فشار نه وای خامخا ایتالیا ته تلم

د ده مور د ایتالیا وه. خپله په امریکا کې زیږېدلی. ورته ومې ویل:

- ژوند دې وي ایتالیا به وګورې

ګیتار یې له چوکۍ سره ودراوه:

- په ځوانۍ کې مې ډېره بیغوره وکړه د ژوند د خوند په راز نه پوهیدم مور به مې تل د ایتالیا د خوړو، سندرو او د خلکو د ژوند کیسې راته کولې

ګیتار ته یې لاس وروغځاوه. کتابچه یې پرانیسته، د ګیتار څو تاره یې وترنګول:

- دا ایتالیایي سندره ده

ما د ده نغمې ته سروخوځاوه. ده ګیتار په غېږ کې ټینګ کړ:

-که مې د زړه وینه ایتالیا ته نه پرېږدي، زړه مې بیا هره ورځ له دې ګیتار سره ورځي

پرانیستې کړکۍ ته یې لاس ونیو:

- چې نغمه غږوم دغه شمال راته د مدیترانې ښکارې

انتوني پر ګیتار ورکړوپ شو. شنې سترګې یې له خونده سره وروستې. ګوتې یې دومره تېزې خوځیدې چې نه سره ښکارېدې او مسته نغمه د کوټې له شاوخوا دیوالونو راغبرګیده.

Scanned with ACE Scanner

# لړمې

د نایټ کلب له تلخونې چې راختله پر زنګنونو یې زور کاوه. لکه چې ډیره ستړې او ستومانه وي. دباندې یې سهارنۍ لمر ته شنې سترګې وربښندې. غبرګ لاسونه یې پرمخ تیر کړل.

د ښي لاس شا یې پر نوکانو وګیروله، همهغه شیبه ورپه یاد شوه چې د شپې تور بریتونه د دې له همدې لاس سره ولګیدل. له بکسه یې دستمال راوایست. د لاس شا یې پرې وموښله، بیا یې وموښله...

پوست یې تک سور شو. وروڼ یې وګیریده. بیا یې ډنګ بریتور سړی ترسترګو شو. د کاوبای پتلانه ټونکر یې پر ګوتو کش ونیو د ښل لاس پر ګوتو یې وروڼ وګیراوه. د غوږ شا یې بخار وکړ. ولې یې وخوخول، تول ځان یې داسې شو لکه لړمې شوې چې وي.

بس ته وروخته د چوکۍ پر تکیه یې ملا وخوځوله راوخوځوله. بکس یې
پرانیست پیسو ته یې وکتل. سر یې پر چوکۍ کېښود. په خیال کې دوکان ته
ورغله، شات او کوچ یې واخیستل. شیدې یې رانیولې د پنیرو. کیک او
ساسج پیسې یې ورکړې...
د بس له دریډو سره یې ټکان وخوړ. راپاڅیده. کور یې کیڼې خواته و،
دوکان ښي لور ته. د دوکان خواته یې وکتل. خو د کور په لور چټکه شوه.
خان یې درد کاوه. بیرته یې ګامونه سست شول. د بلاک پنځم پوړ ته وخته د
خپل اپارتمان ور چې یې پرانیست پیشو میو میو وکړ. پر تندي یې لاس
کېښود:
«اوف ستا خواره مې هم نه دې راوړي»
تر پیشو تېره شوه. هغې خرهاري وکړ، تر دې راتاو شوه. دې په لته پورې
وهله. خپله یې تخت ته ورټوپ کړل. بکس یې پرانیست. پیسې یې
راوایستې، وبې ګڼلې. شونډې یې ویرې شوې. پیسې یې سترګو ته ونیولې. د
پیسو د سګریټو تریخ او د شرابو تیز بوی ته، د بریتور پریړې شونډې
وریادې شوې چې د دې په واسکټ کې یې پیسې ایښودې. ټول ځان یې
وګیریده. پیشو تخت ته وروخته، دې په بکس ووهله. د هغې کریغه شوه. له
دیوال سره ولګیده. له بکسه د سینګار سامان او پیسې خورې ورې شوې.
ورتېته شوه چې پیسې راټولې کړي، خو لاس یې بخار کاوه. هغه یې نوکارې
کړ. ملا یې وګیریده. هغه یې د ویښتانو پر برش وګیروله. ورنونه یې وګیربدل
هغه یې وموښل. سر یې پر بالښت کېښود. د ماشومې په څیر یې ژر ژر ځای
پر ځای پښې ووهلې.
پیشو بیا میو میو وکړ دې سر ورجګ کړ هغې بلې کوټې ته منډه کړه.



Scanned with ACE Scanner

## رپا

د تکر له څای سره تنکی ماښام له موټره ښکته شوه. شاوخوا ښتې دي. ګیډی ګیډی ګلونه چې خلکو څو اونی مخکې دلته د دوو وژل شویو د ویر لپاره ایښي و مړاوي شوي. لس دولس کړې وړې سوځېدلې شمې هم د ګلانو له ډډ سره مړې پرتې دي. د ونې پوستکی اوښتی، ښایي بس به تر اوښتو مخکې ورسره لګیدلی و. په لومړی ورځ لکه چې د دې ونې ته نه و ورپام شوي، د ونې راځوړند پوستکی یې په ګوته واړاوه.

غرېږي شو. بله ښخه وه، دري شمې يې له ګلانو سره کېښودې. درې سره بې ولګولې. په ټيټ غږ يې دې ته وويل:

نن مې واوريدل چې د ټکر يو ټيپي ماشوم ساه ورکړه

د دې په سترګو کې اوښکې ډنډ شوې، غريو ونيوله. خوله يې راټوله کړه چې ورنه ووايي د دې خوانه خور هم دوې اونۍ مخکې له اخيستو ټپونو مړه شوه. خو دا بله ښخه روانه شوه. ژر ژر له سړکه پورې وته. دې پر بارخوګانو لاس تير کړ. پر سړک يو بس بيا څو موټر تيز تير شول. نري باد ته د ونې پاڼې ورېدې، د شمو د اور ژبې هم شمال ته کږې شوې.

## پراګ

## تللی

د خنگله مخې ته د اورگاډي پر پټلۍ ناسته وه. له ورایه، پورې غاړه د خنگله ونې داسې تورې ایسیدې لکه همدا غځیدلې پټلۍ.

دې د سگریټ لوگی له خولې راوایست. د لوگي په ول ول حلقو کې یې تللی کس ترسترگو کیده. مخ یې لوگي ونیو. زیړ لنډ بیاتي کړې وینته یې داسې ښکاره شول لکه د لمر مخې ته چې وریځې راغلې وي. لگیدلی سگریټ یې له مخکې وویشت. پرې وخته. د خنگله په لور یې گامونه گړندي کړل.

د خنگله ونې له نژدې تورې نه ښکاریدې. نجلۍ ورننوته، وړاندې لاړه له ونو تیره شوه. پوړې غاړه یې د ډنډ پر غاړه ملا ته لاسونه ونیول. پر اوبو خځلې او خاشې پرتې وې. اوبه داسې ښکاریدې لکه د توربخونو خاورو پیروی چې یې نیولې وي.

Scanned with ACE Scanner

د اوبو پر سر د دوو کبانو لکۍ وخوځیدې. ډبره یې ورواچوله. د مرغه کاغ کاغ شو. د مرغه اوږده مښوکه وه، پر اوبو راټیټ شو لکه چې کب خوړونکی مرغه و، خو له دې وویریده بیرته یې وزر ټپ وهل او له سترګو پناه شو.

نجلۍ د اوبو له ژۍ سره د خنګله په اوږدو روانه شوه. پاخه سړک ته ووته. کرش کرش غږ و، وچې پاڼې پر سړک یو اړخ بل اړخ اوښتې. دې لایټر سګریټ ته ونیو. باد و، نه لګیده. لاس یې د سګریټ پر سر جتر کړ. د خنګله ونې شمال ته وښوریدې. دې د خنګله زیړو پاڼو ته زرغونې سترګې ورواړولې. ونې یو لور بل لور کړیدې، خنګل د ډنډ د اوبو په څیر تور ښکاریده او دې د سګریټو په کړو وړو حلقو کې په تللې کس پسې کتل چې لرې کیږي، لرې کیږي، لرې کیږي او ورکیږي....

## پراګ

# سفر

یوازې د موټر غر و. سورلۍ غلې وې. یوې سپین سرې سترګې بنې نیولې وې. ترڅنګ یې ناست تور ږیري بیا بیا ساعت ته کتل.

یوه سړي چې د ټیکونو ویښته یې سپین شوي و د سړک د غاړې په ونو پسې داسې شاته غړۍ تاووله لکه یوه یوه ونه چې شماري.

د ماشوم له ژړا سره موټروان مخ واړاوه. بوډۍ سترګې وغړولې. خوان دې ته وکتل:

«ناوخته شو ډیر وړو نه ځي»

بوډۍ خپل چپ ولې پر لاس ټینګ کړ. لکه چې وچ شوی و.

«خیر دی بو دوه ساعته دې ناوخته وي، احتیاط ښه دی.»

خوان په غبرګو لاسونو خپل سر ټینګ کړ. د هلک ماشوم چیغې کړې.

مور ماشوم له ټټر سره ونیو ورو ورو یې ونازاوه:

«نه مې ژوند یې..ژوند..ژوند ..!»

ماشوم غلی شو. بوډۍ بېرته سترګې پټې کړې. د پاخه عمر سړي په ونو پسې غاړه واړوله. خوان له جیبه موبایل راواېست د لاس د ساعت او موبایل ساعت یې سره ولید.

موټروان پر جلب ورکړوپ شو. پاخه سړک ته یې داسې سترګې ونیولې لکه څوک چې د عینکو تر شا څه ګاري او چرت ورته وهي.

ښایي دا فکر به یې کاوه چې سبا به بیا پردې لاره راګرځي.

پای

# فوټبال

د برنډې پر ستن يې اوږه تکيه کړې وه. په يوه لاس کې يې عکس و. بل لاس يې د لاس پر لرګي نيولی و. يو ځل به يې عکس ته کتل بيا به يې باران ته سترګې غړولې. د باران څاڅکي پر پخې مځکې لګيدل، لټيدل. د اوبو داسې ټکاری و لکه څوک چې جوار نينه کوي.

برنډې ته له کوټې راوتلې دروازه پرانيستې وه. د ده ملګري هلته په کوټه کې بند وو، د فوټبال لوبه يې پر تلويزيون ليده.

ده عکس واړاوه راواړاوه، په عکس کې يې ښنه لانه وه غوځه شوې، د ګول مخې ته په منډه ښکاريده. عکس يې باران ته په لپه کې ونيو. د باران اوبو ته تصوير کاسه شو، تصوير له اوبو سره درونډ شو.

ده يې اوبه توی کړې. عکس يې پر ټټر وموښه. له جيبه يې لايټر راوايست، عکس ته يې بل کړ. لوند عکس نه لمبه کيده.

ملګرو يې چيغه کړه:

«ګوووول...»

له دې نارې سره يې لايټر او عکس له لاسه ولويدل. وروځکيده عکس يې راکش کړ، د عکس رنګ الوتی و.

# اخ

د سمندر پر سر لمر پټېټونی کاوه. د وریځو یوه څپه به یې له مخې سمه
نه وه لرې شوې چې نورې وریځې به پرې راغلې.

د (شګلن سمندرغاړې) ترڅنګ رهي وم. دلته هتله غوټه غوټه بوټي
رابوټېدلي وو. وړاندې خړه غونډۍ هسکه ایسیده. د غونډې سر تیره تیک
معلومیده، داسې ښکاریده لکه چې غر راته ولاړ وي. ورګرځندی شوم. پر
ډبرینه غونډۍ ساه نیولی ساه نیولی وختم. له پورته مې شاوخوا وځارله. هغلته
په مخکښې ځای کې شنه بوټې دا رنګ بریښیدل لکه د زمردو غاړګۍ چې
پرې شوې وي.

پر غونډۍ راشیوه شوم. بیرته همهلته ورغلم، پر زرغونو بوټو مې لاس تیر
کړ. شګې مې په موټ کې ټینګې کړې، پښې مې ورته لوڅې کړې، پر شګو
پالي پالي روان شوم...

د مرغه له غږ سره مې پورته پام شو. سیګل دغونډۍ لور ته الوت.

«د غونډۍ منځ ژور ښکاري چې هلته به څه وي؟»

«اخ چې له غونډۍ نه وای راښکته»

د غونډۍ سیوری د سمندر پر اوبو راښکته شوی و. د لمر لور ته مې
سترګو اوښکې وکړې، لمر له وریځو ووت. د سمندر بر سرته ډوب شو.

بروکسل

## بزغلي

پاول بوټي ږدول. لیندا خپل طلايي ویښته په قیدک کې بندول. پاول پرته له دې چې دې ته وګوري خپلې اوږدې څنې پر مړوند د غوږ شاته واړولې:

- له پخوانی میرمنې سره به مې هر کال ویل چې نوي ګلان به تجربه کوم

لیندا له ګلانو مخ واړاوه. پاول د زیړ ګل د بزغلي بیخ ته خاورې وربورې وهلې. په ستمي یې وویل:

- خو خله مې نوي تخمونه هم راپیدا کړو خو ژوند چې رنګین نه وي ارمان دې نه پوره کیږي

- په فیسبوک کې دې د ګلانو پښی لوی ښکاریده. کوچیني کړی دې دی؟

وه‌ځکه ووهله هغه لکه ودریده:

پاول رنده پر مخکه ووهله هغه لکه ودریده:

- زړه مې کېده چې سره ګلان هم کېږدم خو..

- سره او زېړ سره بنه ښکارې

- ژوند په رنګ ولاړ دی که رنګ والوت ژوند والوت

- د همدې لپاره دې کور خو رنګه رنګولی

پاول لاسونه له خاورو وڅنډول، د کوټې خوا ته یې لاس ونیو:

- هاغه پورته بالکون ته ګوره هلته مې زړه غوښتل چې یوه کوټه جوړه کړم، رنګارنګ یې ورنګوم

لیندا عینکې لرې کړې، خپلې زرغونې سترګې یې وموښلې. پاول د کور پر زینو پل کېښود، دروازه یې پرانیسته:

- ښخوا مې ویل چې دغه سالون هم دوه متره پراخوم

لیندا څټ وګیراوه. پاول د سپینو واینو ګیلاسونه ډک کړل. د کوټې دننه یې انځور ته لاس ونیو، رنګه رنګه کرښې پکې ایستل شوې وې:

- دغه ژوند دی

- د دې څه معنا؟

پاول د واینو ګیلاس د لیندا له ګیلاس سره وجنګاوه، کټ کټ په خندا شو:

- معنا به ته پکې لټوې.

لیندا بهر د زېړو ګلانو بزغلیو ته وکتل چې سرونه یې ځړېدل.

پراګ

Scanned with ACE Scanner

## سوی

ماشوم مړ مرغه له اوږدې مښوکې راکاږه. د مرغه بڼې یې پرلاس پسې ولګېدې. ده یې پر بڼکو ورو ورو لاس تېر راتېر کړ.

د «څه کوې؟» له ډډ غږ سره وربېږدیده، مرغه یې پرېښود، په وارخطایې یې شاته وکتل.

ډېرور دنګ سړي مرغه په لته وواهه، مرغه لکه توپ په هوا شو او څېرمه ولوید. سړي د هلک پر لاس رااختلي میږي وڅنډل:

«مردار دی»

د سړي له تګ سره ماشوم شاوخوا وځارله څوک نه و. د مرغه په لور ورغی. مړ مرغه یې واړاوه راواړاوه، د هغه تنتر یې وګیراوه، بیا یې چیغه کړه، لاس یې وځانده، پښه یې ودربوله، میږیان پرې لک شوي وو. منډه یې کړه. د دنګ سړي غږ یې په غوږو کې انګازه وکړه:

«څه کوې؟ .... مردار دی....».

د دیوال سیورې ته غلی ودرید. له لرې یې مرغه ته بد بد وکتل. د مړه مرغه بڼې لمر ته وځلیدې زړه یې وشو چې بیا ورشي، خو لاس او پښې یې سوی کاوه.

پای

Scanned with ACE Scanner

# څوړ

د غونډی په لمن کې یې ستما وه. ملا ته یې لاس ونیو. سترګې یې سره وروستې. خوله یې خلاصه پاتې وه. چې لږ دمه یې جوړه شوه پر غونډی یې نظر تیر کړ. یوه جوړه د غونډی ترنیمایي رسیدلې وه:

«په خواني کې ولې ډیر نه ورپورته کیدم»

د غونډی پر سر د ونې تر شا لمر راښکاره شو:

«پخوا دا ونې څومره کې وې»

د چشمو ښیښې یې پر لمن پاکې کړې بیا غونډی ته خیر شو. د هلکانو غږ شو په کاغذباد پسې غونډی ته په منډو ورختل. ده ورغږ کړل:

«احتیاط کوئ، احتیاط کوئ...»

لکه ترژبې لاندې چې ښیدلی وي، د هلکانو چیغې لوړې شوې. د هغوی له ښنو رالتیدلیو خاورو ته یې سترګې ترخې شوې، شا یې ورواړوله، مخ پر څوړ روان شو، د هلکانو د ګامونو دربا ورو ورو کمیده او ورکیده.

پای

## بنګړي

له رياضه تر کابله مې په الوتکه کې له کړکۍ وريځو ته کتل، تور بخوني وريځې اوښتې راواوښتې. ميرمن مې بيا بيا په زړه راګرځېده. درې مياشتې مخکې يې په چاودنه کې د سترګو مخکې پلار وژل شوی و. ما ويل چې غم يې لږ شي نو د سرو زرو اته بنګړي مې ورته اخيستي وو. خلور به په يوه لاس کړي څلور په دا بل لاس.

په کومه ورځ چې چاودنه وشوه زړه مې کش شو. چاودنې ډېرې وې خو دا ځل مې لکه چې اروا شکه وه. ښځې مې څو ورځې خبرې نه راسره کولې په غم اخته وه، خير خيرات و.

ګوک مې نه و خبر کړي.
لږ هسک ولاړ و چې د کور ور مې وواهه. ګوک مې نه و خبر کړي.
لږ هسک ولاړ و چې د کور ور مې وواهه. سترګې غړولې چې میرمن مې وګورم له واده
په ټولو زیری و. شاوخوا مې نه وه لیدلې. مور راته وویل:
وروسته چې تللی وم بیا مې په کور ده سری به پسې ولیږو چې راشي
غم بې دروند دی د پلار په سر وارووله. مور مې ووته. حویلی ته مې وکتل. یوه
د چای پیاله مې په سر وارووله. مور مې ووته. حویلی ته مې وکتل. یوه
سره چرګه په یوه پښه ولاړه وه. اسمان سپیره ښکاریده. د ګاونډي لور ته پر
دیوال خړې خاورې ناستې وې. ما رنګ الوتې دروازې ته کتل.
په حویلی کې مې داسې ګوک ترسترګو شو لکه خپله میرمن. دستي
کښیناستم چې ګوک مې ونه ګورې چې لار څارم. ښځه مې راغله، لوی
پړونی یې پر سر و. د دروازې خواته په اړخ کښیناسته. پوښتنه مې پرې وکړه:
- د مور دې څه ناڅه غم سپک شوی؟
د دې په سترګو کې اوښکې ډنډ شوې څه یې ونه ویل. بکسونه مې
راکش کړل. بنګړي مې له بکسه راوایستل. ورته ومې وویل:
- دا څلور د یوه لاس دي او دا څلور دې هم دې بل لاس ته واچوه
دا په منډه له کوټې ووته. په چرت کې شوم. له دهلیزه د سلګیو غږ راغی
پسې ورووتم. دا خپلې کوټې ته تیره شوه، پسې ورغلم. شایې راواړوله له
ښي لاسه مې کش کړه څادر یې وښوېده، په چاودنه کې د دې چپ لاس
غوڅ شوی و. ما اته سره بنګړي د دې ښي لاس ته واچول.

پای

# سراب

بشنګګګ... مچ و، له بهره د بندې کړکۍ پر ښيښې له ښکته پورته، له پورته ښکته ته. مچ غوښتل چې کوټې ته ننوځي خو ښيښه يې تر پښو لاندې سراب وه. دی يې بيا بيا تيرايسته. اخر يې د کړکۍ په يوه کونج کې خان غلی ونيو.

د کوټې دننه يو سړي هډوکی وچيچه. د هډوکي له زيښلو وروسته يې د ميز له سره يو خلی راواخيست غاښ يې وټومبه. سړی ورپاڅيد کړکۍ يې پرانيسته، ډکی يې بهر واچاوه.

Scanned with ACE Scanner

مچ د وزر له تپ وهلو سره د کوټې ترمنځ ورسيد. د تلويزيون ترڅنګ د زمري پر وړې مجسمې کېښناست. د تلويزيون پر پرده پړانګ منډه کړه. بڼ شو مچ والوت، د سړي پر سر راتاو شو. لنډ د ککړ پيشقاب پر ژۍ کېښناست. لکه اجازه چې غواړي سړي ته يې سترګې ونيولې، هغه قلم ته کتل. مچ ژر ژر خه وخټل او پر دواړو لاسونو يې خپل مخ وموښه.

سړي لاس تر ميز لاندې تېر کړ، مچمړ يې راپورته کړ. ټک شو پر مچ يې وار وکړ. مچ د کړکۍ خواته ولاړ، هممغې ښيښې ته ورغی چې مخکې يې له بل لورې د راتيريدو هڅه کوله دا ځل بيا ښيښه ورته سراب وه، دی يې تيرايسته چې لار همدا ده. وبنيده، وبنيده، لاس او پښې يې پر ښيښې ووهل راووهل... ښايي دا وار به يې له ارمانه نه، له ويرې بڼا وه، خو هغه وخت لکه چې پوه شو چې کېښوتی دی چې سړي يې پر سر د مچمړ وار وکړ.

پای

# څه؟

د مرغی غږ شو، کړکی مې پرانیسته. واښه شمال پوړول، لمر ځلوول. ورځیرمه پر ګلونو سیوری راغلی و. پنځه کاله مخکې پوره پنځه کاله مخکې همداسې وخت و لا ماښام نه و چې په هوایي ډګر کې مې ولیده.

زما الوتکه له شیږمې دروازې الوته. الوتنې ته ساعت او نهه ویشت دقیقې پاتې وې چې دا راغله مخامخ راته کښیناسته. لاجوردي کاوبای پتلون یې اغوستی و. لنډ لیمویي کمیس یې په تن و. زرغونې سترګې یې په سره مخ کې داسې ایسیدې لکه د منې پاڼې. خو ویښته یې لکه خزان وهلې.

ورته ومې کتل. سترګې مې ښکته شوې. له یوه سره مې نورو ته وکتل چې دې ته مې نظر راورسید، بې واکه مې وګانډه. دا ولټیده. ما وځارله دا د ښیښه اي دروازې شاته تیره شوه له لرې یې وخندل. لاس یې وخوځاوه څه یې ویل لکه الوتکه چې نوې پورته کیږي بیا یوناڅاپه ښکته کیږي زړه ورسره تر تلو وخي، همداسې مې زړه کش شو:

«چیرته به تله؟»

«څه به یې ویل؟...»

د مرغی کغا شوه، له کړکی مې سر پسې وایست، مرغی نه ښکاریده، غږ یې ورک شو، لکه چې والوته.

Scanned with ACE Scanner

# څوک

شیبه مخکې یې څراغونه یو په بل پسې مړه کړل. تپه تیاره شوه، هیڅ شی
یې نه لیدل، خو اوس چې سترګې غړوي د کړکۍ خوا رڼه ورته ښکاري.

د کوټې په کونج کې په جګو پښو کښیناست. پښې ورغونډې کړې، پوزه
یې بهیده. نیغ ودرېد، پرده یې کش کړه.

د کړکۍ پله یې پرانیسته له اووم پوړ څخه یې کوڅه وځارله. پخې شپې
ورسره باران هرڅوک په کور کړي و، خو لاندې د ونو خواته یوه ښځه رهي
وه. د دروازې شانه یې پر میخ راځوړند جمپر ته لاس وروغځاوه، ور یې

راکاره، د لفت بټن یې ژر ژر کلکله کړه. جمپر یې په تن کړ. لفت په شپږم منزل کې ولاړ و. نه خوځېده. پر زینو په منډه شو. د جمپر خولۍ یې پر سر راکش کړه. د کوڅې پر سر روان شو. له ونو سره یې شاوخوا سترګې وغړولې څوک نه و.

بیرته د خپلې کوټې خواته راوګرځېد. لفت لاهم په شپږم منزل کې درېدلی و. پر زینو زانګه وانګه وخوت.

شمال د کوټې پرده په شا وهله. د پړسېدلې پردې ژی یې پسې جګه کړه. د کوڅې څراغونه باران ته خپ ښکارېدل. د ونو خواته یې یو کس ترسترګو شو، سترګې یې وموښلې، څوک نه و. پرده یې سمه کړه، کړکۍ یې پورې کړه د ښیښې له شا یې بیا کوڅې ته وکتل. د باران دانه دانه څاڅکي پر ښیښې ښوېدل.

نیویارک

Scanned with ACE Scanner

# شرنگی

لاسونه یې د کوټ په جیبونو کې وو. د بنیښې له شا یې د رستورانت په منځ کې سړي ته کتل چې پیسې یې تر میز تیتې نیولې وې. گڼلې یې. یو ځل یې تر شلو حساب وکړ. بیا یې سر پورته کړ گوته یې پر شونډو لمده کړه بیرته یې له سره گوته تر پیسو لاندې کړه چې ویې گڼي.

ده مخ د رستورانت ورسی ته ورنژدې کړ، په خپل جیب کې یې میده پیسې وشرنگولې. شرنگی یې لږ و. جیب یې وخوځاوه. د موټر هارن شو. د پیسو کړنگا نوره هم کمه شوه.

ده به تل د سوال د پیسو حساب ماښام کاوه. پیسې یې راوایستې. یوه پیسه یې په شکیدلي جیب کې د استرخواته ولاړه. کوټ یې وایست. له یوه سره یې له بهره پر استر لاس تیر کړ. پیسه یې پیدا کړه هغه یې د استر له لاندې په گوتو راجگه کړه. د جیب منځته یې راوړه، په احتیاط یې گوتې ورووړې پیسه بیا لاندې ولویده. دا ځل یې کوټ سرچپه ونیو. شرنگ شو پیسه پر مځکه وکړنگیده. نژدې ویالې ته غورځیدلې وه خو پښه یې پرې کیښوده. د بوټ پر ختو ککړه پیسه یې راجگه کړه. له نورو میده پیسو سره یې وگڼله. نهه ویشت روپۍ وې. ویې خندل سر یې پورته کړ چې د رستورانت دننه هغه سړی لاهم تر شلو حساب کوي که نه؟!

پر بنیښې یې لاسونه کیښودل، هممغه چوکی تشه وه. شرنگ شرنگ، خپلې میده پیسې یې په موټ کې وشرنگولې او له سرکه یوري وت.

## وایم

وریځې شمال په مخه کړې وې. د مازدیګرني لمر سره تبې د نرۍ وریځو شاته د هغه کمزوري ځراغ په څیر ښکاریده چې ګردی شېبې وریورې وي.

دې سر ښکته اچولی و لکه چې خپل ګامونه ګني. ما ورو ورته وویل:

- ښایسته دي
- څه شی؟

ما یې پښو ته اشاره وکړه. دې یوه پښه لږ پورته ونیوله:

- دا بوټونه نوې نه دي

فکر مې وکړ چې ځرنګه خبره راجوړه کړم. خندا شوه. د سمندر پر غاړه دوو کسانو سره ښکلول او خندل. دې تندی تریو کړ:

- ښې خلک ډیر سپین سترګي دي
- کلوروونه مختلف دي
لږ تېزه شوه. لاس مې د دې له پښې سره ولګید، بخښنه مې وغوښته دې هیڅ ونه ویل. ما بې له لاس سره خپل لاس وجنګاوه، دې خپله ګوتې راښکاره کړه:
- څرنګه ده؟
د یاقوتو سور غمی په سرو کې ګیر و. سور رنګ له زیړ سره ښه نه ښکاریده خو ما واه واه وکړ. دې خپله ګوتې د بل لاس پر ګوتو ونازوله. مخ ته مې وکتل، سرې شونډې یې ویرې وې. خو چې ماته یې راپام شو خوله یې سره ټوله کړه، بنورې سترګې یې لمر ته پورته کړې.
لمر داسې و لکه خای پر خای چې ولاړ وي نه ډوبیده. دې مخ راواړاوه:
- مخکې تر دې چې تیاره شي راځه چې خو
دا چټکه شوه، زه له شا وریسې شوم. له لږ لرې یې لاس وخوځاوه د خپل هوټل په خوا وګرځیده. زه خای پرخای ودریدم، هغه خبرې مې په زړه راتیرولې چې د دې تر کتو مخکې مې په ذهن کې جوړې کړې وې چې دا به ورته وایم، داسې به کوم...خو ما هغسې هیڅ ونه ویل او هغسې هیڅ ونه کړل. د اوبو په لور روان شوم. لمر ډوب شو، د سمندر سرې سیلۍ ته ریرد وریږدیدم.

پای

## وږی

د سپوږمۍ رڼا ته یې له لرې د ډیران پر سر د شنې کڅوړې له لیدو سره شوندې ویږې شوې. لږ چټک شو چې بیا پیشو تر ده مخکې نه شي خو چېچې پښې یې زور نه اخیست. د پرې شوې ښۍ پښې پرځای یې امسا سمه نه شوی لګولی.

پلاستیکي کڅوړه شمال ته ورپیده، ټک ټرک یې وکړ. د کڅوړې خوله پرانیستې وه. پرته له دې چې ورته وګوري لاس یې ورننویست. مڼه وه، وار له واره یې پرې چک وواهه، سر یې کڅوړې ته وربیرته کړ. بل شی هم ښکاریده.

Scanned with ACE Scanner

د نړۍ لارې پورې غاړه د دیوال په بیخ کې له ونو سره کښیناست. د منې هغه ځای چې مخکې یې په غانښ کړی و زیږ ایسیده. غټ خرپ یې نړې وایست. خو خوله یې ترخه غونډې شوه. د منې یو اړخ وروست و. کڅوړې ته یې لاس کړ. وچه ډوډۍ وه. ډوډۍ یې خولې ته ونیوله. غوږ بوۍ یې ترسپږمو شو لکه کچالو چې تازه غوړو ته ورواچوې پر پوزه یې اورده ساه واخیسته.

ټک ټوک شو. برګې پیشو د ډیران سر ته ټوپ کړل. هم‌هغه پیشو وه چې پخوا به ده ډیران ته نه پرېښوده. یو څل خو یې پر امسا داسې وهلې وه چې څو ورځې ترې تم وه.

ده کڅوړې ته لاس کړ بل شی نه و. پلاستیک یې ترسر لاندې کړ. سر یې پر مخکه کېښود. سترګې خلېدل او د شپې په تیاره کې د کړپې غږ سکوت ماتاوه.

پای

## ایسکریم

سپین ږیری د ونې شاته تاو شو. سر یې ټیټ ونیو. ایس کریم ته یې ژبه راوایسته. زوی ته مې وویل:

- پلار دې ګورې

ده اوف کړل. سر یې وخانده:

- هاغه بله ورځ ډاکټر ته ورغلی و ایس کریم ورته زهر دي پخوا به و په پرهیز کې کلک و

- راځه چې ورته ووایو

- تیره شپه مې د ده له مخې خواږه پورته کړل. غالمغال مې وکړ سهار مې بیا خبرې ورسره ونه کړې

Scanned with ACE Scanner

- زه به ورته ووایم
- نه ودریږه چې د پارک خواته تیر شم چې راپام یې نه شي چې چې رابسې دی
- نه ودریږه چې د پارک خواته تیر شم چې راپام یې نه شي چې چې رابسې دی

د بوډا لور نه ورغلم، لږ ایس کریم ترې توی شو، لاس یې پر خوله وموښه، د ایس کریم بیسکیټ یې شاته ونیو، ورته ومې ویل:

- نوش جان، بنه دی چې خوړلی یې شي

د ایس کریم بسکیټ یې په ګوتو کې وخرخاوه:

- دا مې په غابښونو کې نښلي
- د ایس کریم هم بوره زیاته وي شکرې ته ښه نه دی

د پارک لور نه یې وکتل، شکې شوم لکه چې موړ یې کتلي وو، راته وې ویل:

- له کوروالو یې پټ خورم
- نو ولې
- بیا خپه کیږي دوی غواړي چې تر ډیرو ورته ژوندی یم
- خو سم وایي

سړه ساه یې وایسته:

- ډاکټر راته ویلي چې د مغزو په لاندې برخه کې دې تومور دی

پر تنتر یې ځځیدلي ایس کریم لیکه وکړه، ده د ایس کریم بیخ په لاس کې تنګ کړ، ورو یې وویل:

- دوی خبر نه دي... علاج نه لري

د بسکټ توټې یې له لاسه ولویدې.

پای

## نیمګړی

د شرابو پر تش ګیلاس یې شونډې کېښودې. په رستورانت کې یو میز ورها خوا د زیړو ویښتو او کمه رنګه ابي سترګو نجلی داسې ورته وایسیده لکه نیمګړې رسامی. نجلی سترګې ښکته واچولې. ده پر دیوال د خزنده و د راخوړند تصویر لور ته سترګې پورته کړې. په انځور کې خزنده پر ګردیو ګردیو ډبرو لګ وو. شاته اوبه بهیدې. لرې لغړه ونه باد ته کږه شوې وه.

ناخاپه پاڅید. پیسې یې پر میز واچولې. له رستورانته ووت. نه پوهیده چې د کم رنګه ابي سترګو نجلی په کوم لور وتلې. چپ لاس ته تاو شو. پر دیوال یې لاس تکیه کړ. نژدې پرتلی و. د رستورانت دا بله خوا پسې رهي

Scanned with ACE Scanner

شو . د موټر څراغونو ته يې سترګې وبرېښېدې، ټکسي و. ورپورته شو . سيخ
خپل کور ته ولاړ.

په تشناب کې د څراغ له لګيدو سره ميږيو پر سپينو کاشيو يوې خوا بلې خوا منډې کړې. ده د خزنده و د وژلو سپرې ورته ونيوله. پر يو خای يې د ميږيو د غار ګومان راغی، هلته يې ډيره دوا وشيندله. څراغ يې مړ کړ، دباندې د باران غږ شو . بېرته يې څراغ ولګاوه، ميږي نه ښکاريدل. د سپرې پر ډبې د مچ سترګې غټې او د ماشي پښې جګې ورته ښکاره شوې، وېې خندل . بوتل يې پوزې ته ونيو د دوا داسې بوی ته لکه د ودکا. د رستورانت د نجلی ښويه وېښته يې تر سترګو تېرېير شول.

د تشناب څراغ يې مړکړ، د خوب په کوټه کې يې خان پرتخت واچاوه. په اړخ واوښت راواوښت. بهر د باران د دانو ميده ميده ټکا وه. بالښت يې پر سر کيښود، کړکی يې پورې کړه، پښې يې راټولې کړې، راپاڅيده، د تشناب څراغ يې ولګاوه. ميږيان په کتار وو، پښه يې پرې کيښوده څو دانې يې تر پښې لاندې کړل، څو په غار ننوتل، څو يې پر پښه لګ شول. سپرې يې ورته ونيوله ميږيان د ده له پښې ښکته شول، تر ټپ لاندې خپل غار ته ننوتل.

ده سپرې له ورسی بهر واچوله، د څراغ سويچ يې په څپېړه وواهه څو له بهره د برېښنا رالويدلې رڼا ته د سترګو په رپ کې تشناب روڼ شو، تياره شو، روڼ شو او له تپې تيارې سره د باران شُر شو.

پای

## خلا

د کړکۍ څنګ ته په ناستو ورو ورو زنګیده. سپین ویښته یې د مازدیګرنۍ لمر وړانګو ته ځلیدل.

کوټه لا توده وه خو له پښو سره یې پرته توره کمپله ورکش کړه. موبایل ترې ولوید، دستي یې راپورته کړ، ښیښې ته یې وکتل. ګوته یې پرې تیره کړه، خپل زوی ته یې زنګ وواهه، هغه ورته وویل:

«موري بیا درته ووایم چې په کار کې یم زنګ مه وهه»

دې موبال له غوږه لرې کړ، بیرته یې خوله ورنژدې کړه:

«د پسرلي رخصتیانو ته خو راشه»

Scanned with ACE Scanner

ستړګې يې بندې وښوولې. د خواب يې وانه ورېد، ټيلفون قطع شوی و. د پيشو له ميو سره يې د ورغلي تندي ګونځې څه هوارې شوې. ځمکې پيشو ته يې خواږه کتار کړل. د موبايل زنګ راغی. د زوی زنګ و. موبايل يې پر ميز کېښود. پيشو يې غېږې ته ورنږدې کړه. هغې خپله ژبه وخټله. ورو ورو رهي شوه. دې تر ژبې لاندې ووېل:

«مه څه»

پيشو روانه وه. ښځې خپلې شونډې پر مصنوعي غاښونو وربودې. کمپله يې بر تېر واچوله. هغه ورځ وريه زړه شوه چې د لومړي ځل لپاره سمندر غاړې ته تللې وه. بيا يې ملګرې خپه شو ترې ولاړ. د ملګري څېره يې داسې مخې ته راغله لکه په زنګنه هنداره کې چې چاته ګورې. د واده محفل يې تر سترګو تېر کړ. خو دستې يې د مېړه د مرګ ورځ وريادې کړه.

لکه د کوټې کوم څراغ چې وسوځي، په کوټه کې رڼا کمه شوه. شاوخوا يې سترګې وغړولې. د کړکۍ لور ته يې مزغی کوږ کړ. لمر ګرځېدلی و.

پراګ

## زنګ

د تلویزیون غږ ټیټ و خو رڼا یې کوټه رڼه کړې وه. د حاجي صاحب د تسبیح دانو د کوټې سکوت ماتاوه. تسبیح یې اړخ ته کېښودې، تلویزیون یې جګ کړ. ویاند وویل: «داسې ښکارې چې په کابل کې د نڼي چاودنې د قربانیانو شمېر زیات شي.....» سمې تلویزیون ټیټ کړ. د تلویزیون پر پرده کښتۍ ښکاره شوه. دستي یې غږ ورلوړ کړ: «په مدیترانه کې د کډوالو لویه بېړۍ ډوبه شوې ده چې ویل کېږي یوشمېر ښايي پکې افغانان وي. په سمندر کې د ایټالیا ژغورونکي هڅه کوي چې غرق شوي کسان وژغوري».

حاجي تسبیح ښکل کړې، خولۍ یې پر سر کړه. موبایل یې د کربلا د کاڼي په څېر مخې ته کېښود. پر لمانځه ودرېد. د زوی خبره ورپه زړه شوه: «بابا چې تر جرمني پورې هرځای رسیدم حال درکوم بیغمه اوسئ»...

وگرخاوه:

چې کله تحیاتو ته کښیناست سلام یې

«بو رکعت مې لکه چې کم وکړ؟!»

حاجي له سره لمانځه ته نیت وتاړه. له اوږدې دعا وروسته یې د جاینماز پیڅکه راواړوله. ریموټ ته یې لاس ورواوږد کړ. په تلویزیون کې سندره وه. بیرته یې غږ ورټیټ کړ.

میرمن یې خراغ ولګاوه:

-ولې په تیاره کې ناست یې؟

حاجي سترګې وموښلې:

-تلویزیون ته وسوځیدې

-موبایل دې څرنګه په موټ کې نیولی هلکک خو زنګ نه و وهلی

-پرون یې زنګ راغی هره ساعت خو به زنګ نه وهي

-هو بنه وایې

سړې سوړ اسویلی وکیښ:

-ژوند سخته دی

-څه شوې شکر اوس خو ډاکټر دوا هم در کمه کړه

-هسې دا هغه مې ویل دا دی بیا په دشت برچې کې چاودنه شوې مخلوق یې وژلی

ښځې جاینماز ونغاړه:

-شکر چې هلک مو ولیږه

حاجي تسبیح ښکل کړې شونډې یې دعا ته وخوځیدې. میرمن یې تر شا د حاجي په لاس کې موبایل ته وکتل. له کوټې غلې ووته او ور یې نیمکښه پرېښود.

پای

## ډکی

نن يې کليزه ده. اووه ديرشمه کليزه. د ( والتاوا ) سیند غاړې ته له پله سره نژدې هغه ځای ته ورغلې چې تیره جمعه هلته یو ځوان ورته خندلې و.

په یوه لاس کې يې موبایل و، په بل کې يې د رژیدلې پاڼې ډکی څرخاوه. نن يې نیت کړی و، که دا ځوان وګوري د کافي ست به ورته وکړي، له کلیزې به يې هم خبر کړي.

اوبه غلې وې. يو نیم څرپ به يې شو. دې له لرې د اوبو پر سر یوه خاشه وځارله چې د دې ترمخ تیره شوه مخ يې پسې واړاوه. بیا يوې بلې خاشې ته خیره شوه....

د ساعت ستن پر شپږو ولاړه وه. پنځه څلوېښت دقیقې

د پله پر سر

وشوې چې دا د سیند پر غاړه لنده ګرځېده راګرځېده:

«ولې مې تېرخل نه ورته ویل. اوففففف»

لاس یې شانه کړ بانه یې کلکه د سیند لور ته واچوله. هغه وچورلېده راوچورلېده. د دې له پښو سره ولوېده.

غځونې یې وکړې، شانه یې د کمره لور ته مخ واړاوه. له سپېره کمره یې بېرته اوبو ته مخ وګرځاوه. اوبه تلې. ډکې هم یو نیم سپور پرې تېرېده.

دې فکر کړی و چې کله پوهنتون خلاص شي نو واده به کوي، خو ونه شو. بیا یې دا سوچ کړی و چې اروپا ته ورسېږي کورنی ژوند به جوړ کړي، خو پر دې هم دا دی لس کاله واوښتل.

د سیند ژی ته کښېناسته. لمر د پراګ د زړې کلا شاته ټیټ شو. د اوبو خلا تور بخونه شوه او نور نو ډکې هم نه ښکارېدل.

پراګ

# ماشې

د کړکۍ پر ژۍ له بهره ماشې غونج منج ناست و. شمال ته یې وزر خوځیده که زیږد اخیستی و، خو پښې یې کلکې کړې وې، نه غورځیده.

د باران له دانه دانه ټک ټک سره والوت د کړکۍ په هغه کونج کې یې ځان غلی کړ چې د باران دانې نه وررسیدې.

د کوټې په مینځ کې (ایوا اوسیچکوا) د ژمي تر رارسیدو مخکې اورلګید له یوه لاسه بل، له بله بل ته اچاوه. راولټیده. د بخارۍ ور یې بیرته کړ. وچو لرګو ته یې شوندې ویرې شوې، خو د لمسي پرونۍ خبره یې تر ژبې لاندې تکرار کړه:

«د ۲۰۱۸ کال د پراګ لومړی اور»

تیره ورځ چې یې لمسی له پوهنتونه راغله. دې بخارۍ لګولې وه. هغې کړکۍ پرانیسته او دې ته یې وویل:

«په دې توده دپه هوا کې څوک ساه نه شي اخیستلی»

اوسیچکوا د کړکۍ لور ته تیره شوه. د اورسي پله یې راکش کړه. سرې سیلۍ نه توخي پسې واخیسته. کړکۍ یې ژر پورې کړه. بیرته خپلې چوکۍ نه راغله لاسونه یې سره ومومښل:

«نن خو به هوا تازه وي»

له ځان سره وموسیده، ګونځې ګونځې مخ یې لکه د جولا جال شو خو ماشې ته داسې نه ښکاریده پرې کښیناست، ویې زیبښه. د بوډۍ مخ سوی وکړ. دې کلک کلک وموښه، لاس یې په وینو شو.

پراګ

# دیارلس

دیارلس ورځې مخکې چې زخمي شو، دې له ډاکټره تکرار تکرار د مېږه د حال پوښتنه وکړه. ډاکټر دا یوه خبره ورته کوله:

-موږ خپل کوشش کوو

په همدې ورځ یې په کریغو کریغو وژړل. ډاکټر اوبه ورته ونیولې. دې ونه څښلې. په همدې ورځ یې په ډوډۍ هم څکه ونه کړه خو دریمه ورځ یې وروسته تر هغه په مړه ګیډه ډوډۍ وخوړه چې یو ډاکټر ورته وویل:

«که چیرته سړی له کوما راووځي نو هیله شته»

نن دیارلسمه ده چې تیبې لا هم ستونی سخ غځیدلی. سترګې یې پټې دي، نه څه خوري نه څه څښي.

دا یې له بستر سره کښیناسته، ده ته یې وکتل بیا یې وکتل، له کړکۍ بهر ونو ته یې سترګې واړولې. د ونو پاڼې شمال ته بوریدې.

پر بستر ورکړوپه شوه. د ناروغ د غاړې رګونه وغورځیدل. په تیرو دیارلس ورځو کې څو ځله مخکې د ده د ټیکونو رګونه خوځیدلي وو، دې سترګې ژر ژر ورپولې، سر یې وخوځاوه، د ناروغ د غاړې رګ بیا وغورځیده. په منډه له کوټې ووته. په ډاکټر پسې ورغله.

ډاکټر ورسره شو، دا چټکه وه، ډاکټر ورو. اوف یې کړل، ډاکټر ګړندی شو. دواړه د ناروغ سرته ودریدل. ډاکټر د ناروغ سترګو ته ځراغ واچاوه، نبض یې ولید. ناروغ نه خوځیده. ډاکټر د معاینې غوږی په غاړه کې واچوله، په منډه ووت. ښځې غبرګ لاسونه پر سترګو کیښودل، سر یې پورته ونیو، ځرځیده او له کړکۍ بهر پاڼې پوریدې، د چټ پکې ورو ورو پوریدې.

پای

## انځور

برشونه یې د رنګونو ترڅنګ د رسامي له تختې سره کنار کړل. ما ورته وویل:

- هاغه نجلۍ ګورې

ده شونډې پر غاښ کړې. د اوبو څپې لوړې شوې، غږ مې لوړ کړ:

-دا د طلایي ویښتو واله یادوم

-زه هم غواړم چې تصویر یې ذهن ته وسپارم

شمال ته د رسم پاڼه وکرپیده. کاغذ مې له تختې سره ورته ونیو. انځورګر د تختې پر کونجونو قیدکونه بند کړل.

Scanned with ACE Scanner

زه ښکته د اوبو زۍ ته کوز شوم. له څپو راپیدا شوې خګونه ډیریدل،
ورکیدل. شانه مې وکتل، هاغه نجلی روانه وه. انځورګر تختې ته کړوپ ولاړ
و. نجلی ته یې لکه چې پام نه و. په منډه ورروختم. ولې مې وخوځاوه:

- لکه چې رسم دې نیم شو. نجلی څو ولاړه

یو ګام شاته شو د برش پر بیخ یې رسم شوې لړۍ ته اشاره وکړه:

- دغه ده.

- اوهو هاغه ده نجلی هم بیرته راغله

ده د لړۍ پر سر فولادي برش تیر کړ. زه د نجلی لور ته رهي شوم چې ورته ووایم، ملګرې مې ستا رسم ایستلی. دا پر شګو وغځیده. سترګې یې پټې وېبولې. میخک یې پر پوزه و. هغسې ښکلې نه ښکاریده لکه له لړۍ چې خلیده. پرې تیر شوم پر لمدو شګو مې پل کیښود. اوبه مې پر لوڅو پښو تر بیدیو راواوښتې. غړ شو. غړ د موج څپو ته نیم شو. مخ مې واړاوه. انځور ګر لاس راته خوځاوه. ورغلم. په انځور کې پلنې زیړې پاڼې ښکاریدې، شانه یې د اوبو په موجونو کې د لمر وړانګې داسې ایسیدې لکه د زرتارو کار چې پرې شوی وي، د انځور شوې نجلی ویښته یې شمال ته رپولې وو.

پای

## څراغ

د کوڅې څراغ بیې بیا مات کړی. کوڅه تیاره ده. څرپی دی. ورته غلی شوم. څرپا ورکه شوه. د ونې شاته تاو شوم. د ډیران له خوا یو سړی زموږ د کوږ تر مخ تیر شو ورګرندی شوم، معلم و، زموږ ګاونډی. ورته ومې ویل:

- خیریت

په لاس کې یې یو شی و هغه یې شاته ونیو، په پوړیدلي غږ یې وویل:

- هسې څه نه...

له دوکانه راوړی ګروپ مې ورته ونیو:

- ستاسو زینه لوړه ده ته یې راواخله چې د دې څراغ غم دستې وخورم

شوي زياتې دربانديې پيسې کوې به څه کم مات بې خو خله پنځه -

- اوس خو مې څراغ ورته اخيستی

- په کور کې به مو پکار شي

- د امنيت لپاره هم ښه دی چې د کورونو مخه مو رڼه وي

- دلته بې والله که بيا پريږدي ماتوي يې

- چې دا به د چا کار وي

- څه يې کوې چې خلک خارې

- تو خو هغه زينه راوباسه

- له خلکو سره کار مه لره په جنجال وانه وړې وخت خراب دی

دی شا شاته روان شو په خپل کور ننوت.

د کوڅې د بر سر خوا رڼه ښکاريده. يو موټر له هغې خوا راغی څراغونو ته يې زما سترګې وبرېښيدې.

معلم لا نه و راوتلی، دروازه مې وټکوله. ده زينه څراغ ته کيښوده:

- دا دی څراغ خو به کيږدې بيرته به يې مات کړي

ما څراغ په هولډر کې تاو کړ. چې د کور ور مې پرانيست غولی مو لا ورته روڼ شو. د تشناب خواته ولاړم. کور ته مو ډبره راولويده. د ديوال بيخ ته ودريدم. د کوڅې له خوا بله ډبره راغله. په منډه وروتم. معلم صاحب و څراغ بې پر ډبره ويشت. پرې چيغه مې کړه:

- ليونی يې!

موټ يې له ډبرو ډک و هغه يې واچولې. ولې؟ لاندې يې وکتل. اوږه مې وروخوځوله. په ټيټ غږ يې وويل:

- زه له ډېرانه د شپې خواږه تولوم څراغ ته ښکارم.

پای

Scanned with ACE Scanner

## پلاستر

ناوخته مازدیګرني لمر د روغتون د وټو ترمنځ پټ پټونی کاوه. شمال ته جې به کله د ونو نری لښتې کږې شوې د بوډا زیړه خیره به نوره هم د کوږکمن غوندې ښکاره شوه.

بوډا د لاس شاته د لګیدلي پلاستر شاوخوا وګیروله. زوی ته یې لاس ورمخته کړ:

- دا وارووه

زوی یې ورو د پلاستر ژی په ګوتو راکش کړه. پلار یې اخ وکړ. زوی یې لاس ونیو. بوډا د پلاستر اوښتې ژی په خپله یو ځلې راواړوله. د پلاستر شاته یې ښنتو ویښتو ته وکتل:

Scanned with ACE Scanner

- دلته مې ژوند دغسې دی لکه تا چې پلستر ورو ورو اړاوه ټول سره درد دی
- شکر دی په دې شلو ورځو کې دا دی تر دې ځایه په خپله راځې په کور کې دې په یاد دې چې تر تشناب به مو په دوو کسانو وړې
- د مور خبرې دې مه راته کوه دلته نه سم ډاکټر شته نه سمه دوا
- ما هغه ورځې هم ستا له ډاکټر سره خبرې وکړې ویل یې چې فشار دې هم اوس شکر کنټرول شوی او شکر دې هم

بوډا سترګې پټې ونیولې د کځوړنو سترګو شاوخوا تور بخونه ښکاره شوه.

زوی یې د پلار پر لاس ورو لاس کېښود:

- که فکر کوې چې بل روغتون ته ولاړ شو بل ته به ورشو

پلار یې لاس راکاږه د اړولي پلاستر ځای یې ټینګ ونیو. مخ یې د روغتون د ودانۍ خواته واړاوه. د کوټو ځراغونه ولګېدل.

زوی یې ورته وویل:

- زه به مې له مور سره وغږېږم

پلار یې پاڅېده:

- هغې ته خو دا شل ورځې وشوې چې وایم کله خبره اوري

بوډا روان شو. زوی یې پسې وکتل. بوډا په تیاره کې د ونو ترمنځ له سترګو پناه شو.

پای

## ياد

زيبرانسکي عجيب سړی و. هر مازديګر به په پارک کې د چک جمهوريت د منلي مشر څلورم چارلس مجسمې ته څېرمه تر هغو پر څوکۍ ناست و چې ماښام کېده. په اوله کې مې فکر کاوه چې سړی د دې دنګې مجسمې چوکيدار دی، خو په هغه ورځ چې مې له ده د سګرېټ لايټر وغوښت کيسه يې راته وکړه چې تقاعد يې کړی، کار نه لري، د پارک دغه کونج کوچينواله ورپه زړه کوي چې ماشوم و دلته به يې لوبې کولې.

زيبرانسکي دا هم راته ويلي و چې، همدلته يې په نوې ځواني کې لومړۍ ملګرې پيدا کړه او د همدې مجسمې شاته يې ښکل کړه. ده ويل چې

Scanned with ACE Scanner

دي خای ته پورې وهي کنه په پښو کې يې بخواني وختونه يې هرمازديگر دي خای ته پورې وهي کنه په پښو کې يې
اوس دومره سيکه نه شته چې له پورې کوڅې دلته راشي.
د مجسمې څنګ ته مې د اينبې خالي اوږدې چوکۍ پر بازو لاسونه تکيه
کړل. نن د زيبرانسکي لسمه ده. خبر شوم چې په کور کې يې ساه پرې کړې
ده. پوليس د ده د مرګ په دريمه پوه شوي وو چې سړی مړ دی. زوی يې
له پليزين ښاره ورته راغی، د ده جسد سره غونډ شوی و. لاسونه او پښې يې
نه خلاصيدې. نن سهار يې د ده مړی وسوځاوه.
شيبه مخکې چې يې کورته ورغلم، د زوی په لاس کې يې البم و. يو
توپ يې په پښه پورې واهه چې باد يې نه درلود، راته وې ويل:
«پلار مې د ماشوموالي د وخت شيان لا ساتلي دي، په دې البم کې د
بوې نجلۍ تور او سپين عکسونه دي سم نه معلوميږي چې مور مې ده که بل
څوک ده».

زه د پارک د چوکۍ پر همهغه ځای کښيناستم چې له زيبرانسکي سره به
مې کله ناکله خواله کول. سګرټ مې په هغه لايټر ولګاوه چې د چک د
بيرغ په درې رنګه رنګ، سپين، سور او شين رنګيدلی. دا لايټر زيبرانسکي
راکړی و. خو سګرټ مې لا نيم کړی نه و چې له څوکۍ پاڅيدم او له
پارکه ووتم.

پراګ

# تېږې

ډزې غلې شوې. رڼا ته په تمه و چې خان وپاسي. د ونې په بیخ کې یې لاسونه سره راغونډ کړل، یوه پښه یې نه راټولیده.

باد په نرۍ دره کې د اسرافیل د شپیلۍ په څېر تاویده. فکر یې کاوه چې جامې یې له شمال سره له تنه وځي. ونې ته ورنژدې شو. د ونې دوارو خواوو ته پاڼې، خځلې... شمال په مخه کړې وې. وړاندې ځای نه ښکاریده خو ده ګومان کاوه چې هلته ګړنګ دی.

د ونې له ډډه له ځنځو سره لړ وښویده، پښه یې کلکله کړه. خو زور یې نه اخیست، شاته یې لاس وغځاوه چې ونه ونیسي. د ونې پوست واوښت. لړ پورته وښکیده، پر ونه یې غېږ وګرځوله، د ونې ډډ لوی و. لاسونه یې ترې نه ګرځیدل.

سترګې یې کلکې پټې ونیولې، تېږه تیاره رڼه غوندې ښکاره شوه خو داسې احساس یې وکړ لکه ازغي چې یې په سترګو کې لګ شوې وي، هڅه یې وکړه چې سترګې وغړوي، سترګې یې نه خلاصیدې.

مخکه وخوځیده، وریږیده، سترګې یې پرانیستې. تیاره نه وه رڼه شوې.

شمال نه و غلی شوی، ډزې بیا تیزې شوې وې.

پای

## پیغام

په فیسبوک کې یې درې عکسونه خپاره کړې دي، خو پروفایل یې لاهم عکس نه لري. په یوه تصویر کې یې شا ده، په تیاره کې اوبو ته ګوري. په بل تصویر کې شپه ده له لرې یې د ښار څراغونو ته سترګې نیولې دي، دریم تصویر هم د نکې تورې شپې دی چې د سیند غاړې ته نږدې موازې لار تیر شوې ده. درې سره عکسونه کاږه غوندې دي، سم نه دې اخیستل شوي. د عکسونو پر سر یې لیکلي دي، ژوند ښکلی دی.

دا جمله یې روغو ته ښایي سمه وي، خو ده ته ژوند تیاره شوی، په سرطان اخته دی. تیره اونۍ یې راته ویل چې لاهم څه ناڅه هیله لري چې ښه به شي. نن یې په مسیج کې راته ولیکل چې ښه نه دی.

Scanned with ACE Scanner

تر عکسونو لاندې مې ورته ولیکل، ژوند ژوند دی ښکلی دی. کمپیوټر مې بند کړ. د خوب خونې ته ولاړم په اړخ بل اړخ واوښتم خوب تښتدلی و، لوړ دنګ سړی مې ترسترګو سترګو کېده. هغه وخت زړه کېده چې لومړی خل پراګ ته راغلی وم ده د سپند غاړې ته ګرځولی وم، ښار یې راښکاره کړی و.... په فیسبوک کې مې د ده خپاره کړې عکسونه داسې مخې ته تیرېدل لکه په ماشوموالمه کې چې به مې په پلاستیکي کمره کې نصب شوي عکسونه تکرار تکرار کتل. خپل پیغام ته مې ورپام شو:

«ژوند ژوند دی، ژوند ښکلی دی.... اوف»

په منډه ورغلم کمپیوټر مې ولګاوه، ده ته لیکلې جمله مې رنګه کړه د هغې پرځای مې ولیکل، د پراګ ډېر ښایسته عکسونه مو خپاره کړي.

خای ته راغلم، سترګې مې له خوبه سره ورغلې وې چې د ایس ایم ایس غږ شو، بیا ترنګ شو بل ایس ایم ایس راغی. موبایل مې راواخیست، ده په یوه مسیج کې راته لیکلي و، ولې دې په فیسبوک کې خپل پیغام بدل کړ، حقیقت مه پاکوه ژوند خو نورو ته ښکلی دی. دوهم ایس ایم ایس هم د ده واو همدا جملې وې.

پای

# ستنيدل

بوډا پټو له مخه لرې کړ، پر کړکۍ د

په حويلۍ کې د ماشومانو شور شو. بوډا ته خپله

راخوړندې پردې سر د ژمي مازديګرني لمر روڼ کړى و. بوډا ته خپله

کوچنوالى وريه زړه شوه چې په کوڅه کې به يې په توپ پسې منډې وهلې،

نارې به وې. د هغه وخت روښانه لمر يې سترګو ته ودريد چې ماسپښين به

يې ورو ورو د ديوال له بېخه لمن ورنغښتله، دى به ورته هوسيده چې

مازديګر به راځي، لوبې به کوي.

په غولي کې د ماشومانو غږونه لوړ شول. ده سر له بسترې راجګ کړ،

ملا يې وبربښيده، اخ يې وکړ له درده يې سترګې پټې ونيولې. کغ شو،

ورخلاص شو، سترګې يې رڼې نه کړې، زړه يې غوښتل چې بيرته د

ماشوموالي يادونو ته په خيال کې ورشي، هڅه يې وکړه چې هغه مازديګرنى

سپوږى سترګو ته ودروي چې په ماشوموالي کې به دغه وخت د کوڅې له

نورو کوچنيانو سره يوځاى کېده، د کور ترڅنګ په خالي ميدان کې به يې

لوبې کولې. خو د کړکۍ شاته د ماشومانو چيغو خيال ته نه پرېښود، اوف يې

وکړ:

- دا غلي کړئ

ښځه يې اوچته پاڅيده، کړکۍ يې پرانيسته:

- در تيرېږئ نارې مه وهئ

ماشومان غلي شول، کوټې ته سړه هوا راغله، بوډا پټو پر سر راکش کړ.

خو د ملا درد نه پرېښود چې په خيال کې د ماشوموالي زمانې ته ستون شي.

پاى

## تیاره

د دیوالي ساعت ټک ټک زما د زړه د دربې په څېر تېز و، خو شپه نه تېرېده، تیاره نه رڼېده. د عملیات دردونو نه مې ساه ډوبېده.

ورنه ومې ویل لکه چې بوره نه شو. غږ مې لږ لوړ کړ.....

د ساعت ټک ټک زیاتېده، د درد احساس کمېده، رڼا نه هېڅ ډیرېده. سترګې مې پرانیستې. ساعت د بستر پښو ته د سینې پردې ترڅنګ پر دیوال راځوړند و. سترګې مې پټې کړې، بیرته مې رڼې کړې ایله د ساعت ستن پنځلس ثانیې اوښتې وه:

«تر دې خو هاغه شپه ژر تیرېده»

هغه لکه چې نرسې ته وویل. داکټر ته مې وویل. ټن
ښنې مې وېورېدې.
شېه خطرناکه ده.
سترګې مې خوبولې شوې... یوازې وم. یوازې هم نه وم. بې پانو ونې
وې. لکه لړګې چې دې نېغ نېغ درولې وي، لړه وه:
«لمر چېرته دی؟»
د تورخنګله لرې برخې ته ترسترګو کېدې، ورننوتم، هلته جګه سپینه
مجسمه وه. سترګې یې د ډبرو وې، غوږونه، پوزه، غاړه، تن هرڅه یې
مرمرین و. تک سپین. غاړه مې ورکړه، لاسونه مې ترې نه ګرځېدل. پر مخ
مې ګوتې تېرې کړې، لاس مې لوند شو.
سترګې مې رڼې کړې. ځان مې لوند و، د ساعت ټک ټک و، ماښام و،
د ساعت ستن نه ښکارېده...

سترګې مې بیرته سره ولاړې، بیا زه وم، بیا تورخنګل، شاوخوا سپینې
واورې ته رنه شوې وه. لکه څوک چې چیغې وهي، خو درد مې نه حس
کاوه. مخکې چې له درده مړکېدم ټول غلي وو.. د ساعت ستن ورکه شوې
وه. که درېدلې وه؟؟....

پای

## نښبه

سره ستما یې وه. پر مړي یې مړې خاورې ژر ژر اړولې. دواړو مول وهلی وو. د هر بیل خاورې له اړولو سره یې شاوخوا خاړله. په دښته کې دلته هلته بوړبوکیو سرونه راایستلي وو.

له لرې د خلکو غږ شو. یوه یې کلاشنکوف له اوږې راښکته کړ:

- شمال دی؟!

- خلک دي

ده خپل ملګری له لاسه کش کړ:

- خوږ نه

ملګرې یې پر هوار ګور بیلچه خطا کړه. وربسې شو. یو لس ګامه لا نه وو تللی چې بېرته ستون شو. هغه بل چټ چټ ورته وکړ. ده مخ ورته راواړاوه خو بیرته پورته وخوت. د ګور سر ته یې یوه دبره کیښوده، لږ زور یې پرې وکړ. بیا یې لاندې خوږ نه مخه کړه. اندیوال یې غاښونه ورته وچیچل، ساه نیولي یې ورته وویل:

- اجل دې راغلی څه دې کول؟!

- دا ګور بیا رانه ورک نه شي

شاوخوا ناري شوې. دوی منډه کړه خو د خوږ له پر سره وسله والو د ټوپک ججورې پرې تش کړل.

دزې غلې شوې، د بوټونو خرپا ورکه شوه. په دښته کې د شمال د شپیلی غږ جګ شو، باد د نوي ګور پر مړو خاورو راواوښت او لاندې یې په خوږ کې د دوو تنو پر وینو خاورې وشیندلې.

پای

Scanned with ACE Scanner

## څوک

د شپې به ډېر زګېروی و. بيا نرسه راغله ستن يې ورولګوله. اوس چې لمر راختلی دا دی بيا يې ويښ واخ دی. ورغږ مې کړل:

«بابانيکه، ښه يې؟»

د پردې تر شا نه رابسکاريده، غږ مې لوړ کړ:

«ډېر په عذاب يې؟»

بابانيک پرده کش کړه:

- مننه، ښه يم. پرون پايوازان درته راغلل نن څوک درته راځي؟

- نه پوهيږم

Scanned with ACE Scanner

- ته بختور یې زه په خپل وطن کې څوک نه لرم

پر خپلې پلاستر شوې اوږې یې لاس کېښود، په اړخ شو:

- اول خل چې مې ټکر وکړ زوی مې مړ شو، ښځې مې طلاق کړم که مې ښځه لرلی او سمه ښځه، خامخا یې حال راپاندې اخیست... خامخا

د دروازې ټک ټک شو، بابانیک سوړ اسویلی وکیښ، ډاکټر و. ده ته یې وویل:

- ما خو پرون درته ویل چې د شنبې په ورځ دې ښایي رخصت کړو خو له پرون راهیسې دې چې نرسې فشار کتلی دی فشار دې لوړ شوی په علت یې باید پوه شو نو خو ورځې نورې باید په روغتون کې پاتې شې».

د ډاکټر له وتلو سره بابانیک زما بستر ته ودرید، راته وې ویل:

- تاته څوک راځي

- که راتلی خامخا یې تر اوسه حال راکاوه

- دا دنیا همداسې ده که دې چاته ګټه نه وررسیږي بیا دې هېروي

سترګې مې خوبولې شوې، چې رڼې مې کړې د سیرم پر کڅوړې ولګیدې چې دانه دانه په نري پایپ کې څاځي. تر کڅوړې ورها خوا د کړکۍ له خوا رڼا راتله، خو د ژمي مازدیګر نه تیریده. بابانیک هم غلی و، پرې غږ مې کړل:

- ښه یې؟

د پردې له شا یې ځواب راکړ:

- کتاب وایم بیخي ښه یم

- د څه شي کتاب دی

- ناول دی خوندوره کیسه لري یو سړي خپله ښځه وژلې، پولیس پسې ګرځي خو نه یې شي موندلی.

## مينه

« ته راباندې ګرانه يې »

د (ايوا) شنې سترګې لکه موجونه لمر ته وځليدل:

« څه ته دې زنګ وهلی و چې راشم »

عبدالله، والتاوا سيند ته کانی ورواچاوه، اوبه کړی کړی شوې. نجلی ورته چم وکړ ارامې اوبه بيا حلقه حلقه ماتې شوې.

ايوا اوږې پورته کش کړې:

- څه دې ويل؟

Scanned with ACE Scanner

عبدالله اوبو ته لاس ونيو:
- ځرنګه تيريږي؟
ايوا خپل طلايي ويښته د غوږ شاته کړل. عبدالله اسمان ته وکتل:
- دغه اوس څه ښه ښکاري
- ډير ښه
- نن ښه هوا ده
- اممممم
عبدالله د ايوا سترګو ته سترګې ونيولې. نجلۍ يې لاس وخوځاوه:
- زه ډيرضرور کار لرم تاځه ته راغوښتې يم
- همدې ته چې ستا زړه ته ولويږي چې ته راباندې ګرانه يې
نجلۍ لمن وخنډله، روانه شوه، له لرې يې لاس ورته وخوځاوه. عبدالله د سيند غاړې ته پر اوسپنيزې څوکۍ کښيناست. سترګې يې پټې ونيولې. خوبولۍ و چې د ايس ايم ايس په ترنګ پورته غورځار شو. ايوا ورته ليکلي وو:
«ته ګرانه يې، اوبه تيريږي، هوا ښه ده، لمر ښايسته دی....په دې خو پوهيدم ولې دې نن له کاره ايستم؟؟؟؟»
عبدالله شاوخوا، پر لمر او اوبو نظر تير کړ، په موبايل کې يې د ايوا عکس ته وکتل، د هغې سترګې خړې ورته وايسيدې، اوبه يې پر کاڼي وويشتلې، د سيند اوبه کړۍ کړۍ ماتې شوې، بيرته سره راټولې شوې او روانې شوې.

پراګ

Scanned with ACE Scanner

# کډوال

د سپوږمۍ رڼا ته د نجلۍ سپینې متې ځلیدلې. عبدالله د نري سړک پورې غاړه سر کوږ ورته نیولی و. د نجلۍ لاسونه د ډیران په صندوق کې دننه وو. پښې یې لړ جګې کړې وې.

عبدالله خپله ږیره وګیروله. ده نن شپاړس ساعته په دوکان کې کار کړی و ستړی و، خو له زړه خوښ و ځکه چې د اونۍ تنخوا یې اخیستې وه.

نجلۍ یوه پلاستیکي کڅوړه له ډیرانه راوایستله. اړخ ته یې کېښوده. دی پسې ورغی. ورته ویې ویل:

- مرسته درسره وکړم

نجلی شونډې بوځې کړې:

- د خوراک څه نه شته نو څه مرسته به وکړې

- که خوراک غواړې زه به یې درته واخلم

نجلی د عبدالله د کڅو کاوباې اوښتو پایڅو ته وکتل. عبدالله ورنژدې شو د دې مټ یې ټینګ کړ. نجلی اوږه ټیټه کړه:

- پیسې راکړه بیا دغسې کوه

- عبدالله له جیبه یوڅاې خپلې پیسې راوایستې دې ته یې پنځه پونډه ترې بیل کړل

نجلی لاس وخوځاوه، عبدالله پنځه پونډه نور ورسره یوځاې کړل. نجلی سر ته ټکان ورکړ. عبدالله شل پونډه ورته ونیول. نجلی پرې غوټه کړل. عبدالله غوښتل چې په غیږ کې یې ونیسي، نجلی پورې واهه:

- څلویښت پونډه

عبدالله پنځه پونډه نور په موټ کې ورته کیښودل او د ډیران د صندوق شانه یې کش کړه.

د صندوق شاته سیوری و شاوخوا د سپوږمی رڼا. عبدالله په شا شو د نجلی د ځان وروست بوی ته. نجلی ته یې وویل:

- پیسې مې بیرته راکړه

نجلی د کمیس تنی وتړلې، روانه شوه. د دې لوڅې متې د سپوږمی رڼا ته له لرې ښکاریدې. عبدالله پسې کتل خو په لوړ غږ یې کلیمه ویله او پرځان یې چوف کوله.

پای

Scanned with ACE Scanner

# پښه

اکمل له کټه کړکۍ ته وروخکېده. د تورې پردې ژۍ یې پورته ونیوله. د دیوال په بیخ کې یې پر واورو د لمر پرتو وړانګو ته سترګې وبرېښېدې. ځنګ ته ورسره اینښې پلاستیکي پښه یې راواخیسته. د هغې شویه پونډۍ یې ټینګه کړه، کلکه وه. بیا یې پر خپلې چپې پښې زور وکړ، تندی یې تریو شو. پلاستیکي پښه یې د ښي پښې له غوڅ شوي ورانه سره وتړله. له دریڅو سره یې لاسونه جګ کړل. د وره په لور یې اوچت ګام واخیست، خو مخکې تر دې چې وره ته ورسیږي، ورو شو.

د کوڅې بر سر د پارک په خوا زانګه وانګه روان شو. د پارک په مینځ کې واورین سړي ته ودرېد. په خندا یې د هغه له لرګي جوړ شوی لاس په موټ کې ونیو، لکه روغبړ چې ورسره کوي، خو لرګی وخوت، د ده ویړې شونډې سره ورغلې. د واورو د سړي له څټه یې یو موټ واوره رابیله کړه پر لرګي یې وتپله، هڅه یې وکړه چې بیرته د واورین سړي رابېل شوی لاس په خپل ځای کېږدي، خو د ده لاس خطا شو. د واورین سړي پر مخ ولګېد. د هغه د سکرو سترګې ولوېدې. د ګازرې زېړه پوزه یې کږه شوه.

ده یې پوزه بیرته ورنیغه کړه، سترګې یې ورځای پرځای کړې. لاس یې ورته کېښود، خو له ټېټېدو او جګېدو سره یې پښې درد وکړ. شونډه یې پر غاښ ټینګه کړه، په نوې مصنوعي پښه کې یې لا ورون نه و روږدی شوی. واورین سړي ته یې له اړخه وکتل غرمنۍ لمر ته د هغه د ګازرې له پوزې، د سکرو له سترګو او د لرګیو له لاسو څک څک اوبه څڅېدې.

پای

Scanned with ACE Scanner